أدع إلى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي أحسن (الآيه)

دعوت

د توحید او جهاد مجله

دافغانستان دجماعة الدعوة الی القرآن والسنة دافکارو خپرونکې

۳۰

هغه کسان به هیڅکله معاف نشی چه د جهاد او اسلامی فتوحاتو د پردی تر شا د خپلو قومی، لسانی او سیمه ایزو ناوړو خواهشاتو د پوره کولو اراده لری.

الهي فرمان

بسم الله الرحمن الرحيم

وان طائفتان من المؤمنين آقتتلوا فاصلحوا بينهما فان بغت أحد هما على الاخرى فقاتلوا التى تبغى حتى تفىءَ الى امر الله فإن فاءت فاصلحوا بينهما بالعدل واقسطوا ان الله يحب المقسطين.

(الحجرات-۹)

ترجمه: اوكه دمومنانو دوه ډلى پخپل منځ كى په جگړه اخته شى نو د دواړو تر منځ سوله وكړئ نو كه يوه ډله په بله باندى سركشى وكړى نو تاسو له باغى ډلى سره وجنگيږئ تر څو د الله تعالى امر ته غاړه كيږدى نو كه غاړه ئى كيښوده د دواړو تر منځ دعدل او انصاف په رڼا كى سوله وكړئ. بيله شكه الله تعالى له عادلانو سره مينه لرى.

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين.

سورة يوسف (۱۰۸)

دعوت

دتوحيداو جهاد مجله

دامتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

مؤسس: شهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه الله)

سرپرست: الشيخ سميع الله

دريم كال- پر له پسې گڼه (۲۰) د۱٤۱۲هـ ق كال دشوال المكرم مياشت د۱۹۹۲كال اپريل

دهيئت تحرير تر نظارت لاندې

په پاكستان اونورو بهرنيو هيوادونو كې زموږ نمايندګان

په داخل كې : لعل محمد «افسوس»

اسلام آباد : عفيف احمد

پيښور : غنى الله «مسلم»

لاهور : حماد شاكر

كراچي : چوهدرى ظهور احمد

كوئټه : عرفان منګل

مظفر آباد: بشير قريشي

سعودى عرب : فيضان الله

امريكا : عبدالرحمن احمد

بريطانيا : منور على

جرمنى : وائى - ايم حميم

هالينډ : عماد الدين بكرى اسماعيل

ددې ګڼې مطالب

(عنوان) (مخ)

* سرمقاله ۲
* دسورت صف لنډ تفسير ۵
* رښتيني شهيد ۱۸
* په اسلام كې د مسلمان امير اهميت ۱۹
* په سعودى عربستان كې بنسټيز نظام ۲٤
* اسلام او اهل حديث ۲۷
* سرى لنكا ۳۰
* اسلامي عقايد او د امت ديو والي اساسى اصول ۳۲
* داسلام لومړنى مجاهدين ۳۵
* اخلاص ٤۰
* جمهوريت درآئينه اسلام ٤۳
* ستاسو پوښتنې د قرآن او سنت په رڼاكې ٤۷
* دليكونو بهير ٤۹
* دچكدرى په كيمپ كې دتنظيم طلبهٔ سلفيه غونډه ۵۲

داشتراك وجه:

په پاكستان كې.	په نورو بهرنيو هيوادونوكې
مياشتنى ګڼون:	مياشتنى ګڼون :
.۱كلدارى	۲ امريكائى دالره
كلنى ګڼون: . .۱كلدارى	كلنى ګڼون : .۱ دالره

مكاتباتى پته : «دعوت مجله» - پوسټ بكس نمبر ٦۱٤ پښاور پاكستان

بانكى حساب: جماعة الدعوة الى القرآن والسنة - اكاونټ نمبر ۱۹٤٦۵ - حبيب بينك كينټ - صدر روډ - پښاور.

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

په افغانستان کې دکمونیزم داستبداد ماڼۍ رانسکوره شوه امیدونه او اندیښنې

دیارلس کلونه دانسان لپاره لوی عمر دی خو دحکومتونو او رژیمونو لپاره یو لنډ مهال دی. سږ کال بیا هم ثور راغی خو دتیرو کلونو په شان ورسره په افغانستان کې دکمونستي جشنونو دتجلیل او ځانګړي پیغام په لاس کې نشته بلکه دثور درا رسیدو څخه لاوړاندې وړاندې په کابل کې دکمونیزم اوالحاد دظلم او استبداد ماڼۍ رانسکوره شوه، نجیب له اقتدارنه لاس په سرشو او د۱۳۷۲هـ ش د حمل دمیاشتې وروستي نیمائي برخه دافغانستان دمومن ولس په جهادي تاریخ کې دبریو او ویاړلو کارنامو دثبت یوه ځلانده مرحله وه.

په افغانستان کې حالات په ډیره چټکۍ سره بدلیږي او نه پوهیږو ترهغه چه ددعوت دمجلې داګڼه له چاپ نه راوځي او دلوستونکو په وړاندې ایښودل کیږي زمونږ دهیواد په حالاتو کې به څومره انکشافات او تغیرات رامنځته شوي وي خو تردې مهاله چه داکرښې لیکل کیږي، دنړۍ د ټولو خبري رسانو او راډیوګانو څخه په کابل باندې دمجاهدینو دتسلط خبرونه او رول کیږي، یعنې دهغې فتحې خبرونه چه په ملیونونو مجاهدینو ئې دلاسته راوړلو لپاره دسرونو نذرانې دالله تعالی دربارته وړاندې کړې، په ملیونونو مجاهدین دمقدس جهاد دتودو جګړو په مورچلونو کې دروسي یرغلګرو قواوله خوامعیوب او معلول شول او په ملیونونو افغان مسلمانان دخپلو پلرنیو کورونو پریښودلو او دهجرت دپاکې لارې په غوره کولو اړشول.

دیو مسلمان او مجاهد لیکوال لپاره به ددې مقالې لیکل دزیاتې خوښۍ او دالله تعالی په دربارکې دحمد اوزیاتي شکرانې د اداً کولو وړوي چه نن د دیارلس کالو اوږد خونړي جهاد نه وروسته په افغانستان کې دکفري اوالحادي نظامونو دبشپړې نابودۍ او داسلام دلښکرودتسلط اوبري داستان وړاندې کوي او په جرأت سره لیکې چه الله تعالی داسلام دحقانیت او دالله تعالی دسپیڅلې لارې له مجاهدینو سره خپلې ټولې وعدې پوره اوریښتونې کړې، مونږ په شمیر کم وو اوتش لاسي او دښمن مو په شمیرڅو سوه چنده زیات او په مدرنو اوجهان لرزوونکو وسلو سمبال خو الله تعالی داسې وحشي او خونخوار دښمن چه امریکا او افریقا ترې په لرزان وه زمونږ په مقابل کې مغلوب کړ، درنې او اتومي وسلې ئې زمونږ دنومیالیو مجاهدینو داسلامي مقاومت او جهادي احساساتو په وړاندې عبث او ناکامې شوې او دجګړې په پای کې دنتایجو لټون او دجګړې ددواړو خواؤ دقواؤ بې انډولۍ نړۍ ته ددې قرآنې فارمول او الهي وعدې د حقانیت روښانه عملي اثبات وړاندې کړ چه دجګړې ګټل دافرادو په شمیر او کمیت پورې اړوند نه دي بلکه دهغوی په باطني کیفیت او سپیڅلتیا اوحقانیت پورې تړلي دي چه سل تنه ریښتوني مسلمانان به دالله تعالی په فضل په زرو تنو کفارو باندې بریالي شي، نن دافغانستان دمسلمان او مجاهد ملت لپاره داسلامي جهاد نتیجه چه دقرآن او سنت

حاکمیت او د الهي وحی په رڼا کی یو سوچه اسلامی حکومت قائمول وه اود اسلامی جهاد مشرانو دافغانستان دمسلمان مظلوم ملت سره دادیارلس کاله دهغه وعدی هم کړی وی، سترگی په لاره ده چه آیا مجاهد مشران او قیادی رهبرا٘ن خپلو هغه وعدوته چه ئی کړی وی وفادار دی اوکنه؟ آیا اوس به دقرآن اوسنت حاکمیت غواړی اوکه دخپل هوی اوهوس حکومت غواړی.اسلامی حکومت د یته نه وائی چه چا ځایونه ډیر قبضه کړی هغه به صدروی، یائی کلشین کوفونه ډیروی اویادلاس پوځی حکومت بقایا چاته تسلیم شی هغه به رئیس جمهوروی او یائی بین المللی کومك ملگری وی هغه حکومت اسلامی دی، بلکه اسلامی حکومت خپل مشخصات او ممیزات لری، هغه داچه قرآن او حدیث به دژوند په ټولو شعباتو کی حاکم او هغه ته به برلاسی ورکړه کیږی، اویگانه نظام چه دوحدت او اتفاق اوامن او امان اوکامیابی او دمسلمان ملت دترقی او محبت او اخوت ضامن دی هغه دقرآن اوسنت دحاکمیت نظام دی اوبس اودقرآن او حدیث دنظام نه سوا بل هیڅ، کراسی، اوایزم، دانسانانو دامن او اتفاق لو اتحاد ضمانت نشی کولای او نه به په هغه کی وروری اودوستی حاصله شی. او هغه نظام چه هغه دمسلمان ملت حقوق تآمینوی او دهغه دآبرو او سر اومال او ناموس دحفاظت ضمانت کوی، هغه دقرآن او سنت نظام دی.

زمونږ مجاهد ملت دخپل مقدس جهاد په ترڅ کی په خپلو پاکو وینو باندی دخپل هیواد ځمکه داسی پری منځله چه بیابه دکفری او الحادی ایدیولوژی هیڅ کوم زمامدار په دی اسلامی هیواد کی دخپلی فاسدی مفکوری دخپرولو لپاره زړه ښه نه کړی او بشپړ استقلال اوآزادی به ئی ځکه تامین شی چه دنړی ستر کفری طاقت یعنی روسی استعمار دافغانستان د مسلمانو مجاهدینو سره په جگړه کی له پښو وغورزید او که څه هم گوربه چوف زیاتی هلی ځلی وکړی چه د«پروستریکا » دپروگرام په وسیله افغانستان په خپله استعماری قبضه کی وساتی خو دغه «خونړی تپ» بالاخره په خپله دشوروی استعمار وجودټوټی ټوټی کړ او دافغانستان مبارز او مجاهد ملت ئی دیو فاتح او ویاړمن ملت په حیث نړیوال منظر ته معرفی کړ، خو دجهاد دبریالیتوب په دی حساس پړاوکی چه نه یوازی دافغانستان د مسلمان ملت لپاره بلکه دنړی دټولو مسلمانانو لپاره دخوښی او دالله تعالی حضورته دشکرانی دمراتبود وړاندی کولو وخت دی، زمونږ دزوریدلی او کړیدلی ملت دهر فرد په وچو شونډو دنوی امیدله تبسم سره سره داندیښنو او وسوسو یوه مجهوله څپه هم خپره ده، دغه اندیښنی او وسوسی دجهادی تنظیمونو دبی اتفاقی او خو دغرضی او نورو جهادی تنظیمونو ته دغلچکو پلانونو دجوړولو څخه راپیدا شوی چه په حقیقت کی ئی په افغانستان کی داسلامی نظام په روښانه اُفق دیوی داخلی جگړی توری لړۍ راخوری کړی دی.

دنجیب دراپرځیدونه لاوړاندی دافغانستان دټولو جهادی تنظیمونو په گډون یو لړ بین المللی سلا مشوری روانی وی او دا امید موجود ؤ چه دافغانستان په آ زادی او نوی جوړښت کی به ټول جهادی تنظیمونه برخه ولری خو کله چه دافغانستان ټول ولایات دمجاهدینو په لاس فتحه شول او دپایتخت کابل دنیولو او دافغانستان دراتلونکی حکومت لپاره تدابیرنیول کیدل نو د څوتنظیمونو مشران چه خپل ځانو نه دافغانستان دجهاد ټیکه داران او دافغانستان دراتلونکی حکومت حقیقی وارثان گنی په بنده کوټه کی سره را ټول شول او دافغانستان په مجاهد ملت باندی ئی دیو خود ساخته هیئات دمسلط کولو اعلان وکړ چه دغه هیئات یوازی دهمدغو څوتنو لیډرانو له خاصو مصاحبو څخه تشکیل شوی ؤ او نورو جهادی تنظیمونو ته پکی هیڅ ډول حق ورنه کړی شو او نه دهئیات دتشکیل په باب کوم اسلامی اصول مراعات شول او حتیٰ په خپله دغونډی دگډون کوونکو پوره ملاتړئی هم ترلاسه نه کړی شو.

ترهغه ځایه چه په مونږ پوری اړه لری باید ووایو چه جماعة الدعوة الی القرآن والسنة افغانستان دخپل جهادي قدامت ټینګ عقیدوی بنسټ او مالی او ځانی قربانیو په ورکولو سره دافغانستان دسرنوشت په ټاکلو کی ځانګړی حیثت او مقام لری. ددی جهادی تنظیم مشر شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) هغه لومړنی عالم دین ؤ چه په افغانستان کی ئی له نن نه شل کاله وړاندی دجهاد ټوپك په اوږه کیښود او دکونړ له ولایت څخه ئی دخلقیانو او پرچمیانو په خلاف دمسلحانه جهاد اعلان وکړ.

شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) هغه لومړنی مجاهدؤ چه له کونړ څخه ئی دتره کی دنظام په خلاف جګړه پیل کړه دکونړ بیلابیلی برخی ئی دکفر او الحاد له قواو څخه پاکی کړی او بالاخره زمونږ دشهید مشر مدبرانه جهادی قیادت ؤ چه کونړ په ټول افغانستان کی دلومړنی آزاد ولایت په حیث وپیژندل شو او اسلامی إمارت پکی دټولو جهادی تنظیمونو د غړو په ګډون اعلان شو، او هـــم دازمونږ نومیالی مشرؤ چه داسلام دسرلوړی او په افغانستان کی داسلامی نظام دغوښتلو په ګناه په شهادت ورسید.

خونه پوهیږو دغه څوتنه رهبران څنګه ځانته حق ورکوی چه دجماعة الدعوة په جهادی او عقیدوی حیثیت باندی سترګی پټوی، زمونږ دمجاهد مشر دقربانی او دجماعة الدعوة په جهادی کارنامو باندی پښی ږدی او په کونړ کی داسلامی امارت دټینګښت لپاره زمونږ دزرګونو مجاهدینو بی ګناه وینی بی ارزښته ګڼی او داضرورت هم نه احسا سوی چه دجهاد او اسلامی دعوت ددی ستر مرکز سره مشوره وکړی بلکه فکر کوی چه جهاد به دسیمه ایزو او قومی او ژبنیو خواهشاتو دپوره کولو د خونړی جګړی په ډګر بدل کړی او دافغانستان دمسلمانانو دوینو په سیلاب کی به دخپل شخصی اقتدار غوښتنی کشتی ساحل ته ورسوی، او بیابه اعلان وکړی چه داخو اسلامی حکومتؑ او څوك چه داسلامی حکومت مخالفت کوی هغه باغی دی او دباغی په حیث به ورسره معامله وشی!!

لکه څنګه چه موپخوا تل ویلی دی یوځل بیاپه پوره صراحت سره اعلانوو هغه حکومت چه په غیراسلامی طریقه داقتدارکرسی ته رسیږی اوپه بندو کوټو کی دافغانستان لپاره رهبران اوحکمرانان ټوړل کیږی دافغانستان دجماعة الدعوة۔ الی القرآن والسنة له حمایت او ملاتړ څخه به هیڅکله هم برخوردارنشی بلکه هیڅ یو مجاهد او مهاجر به ئی پلوی ونه کړی.

زمونږ په هیواد کی دديارلسو کلو په اوږدو کی د روس له خوا دجوړو شویو حکومتونو راپرځیدلو دا حقیقت ثابت کړی چه زورګیر حکومتونه په افغانستان کی دوام او قوام نشی موندلی بلکه هغه حکومت به دمنلو وړوی چه په اسلامی طریقه اودمسلمانانو له خوښی سره سم په افغانستان کی اقتدار ترلاسه کړی.

افغانستان دټولو مشترك کوردی په دی هیواد کی دکفر او الحاد دنابو دی او دالهی نظام دټینګښت لپاره ټولو مومنو مجاهدینو قربانی ورکړی، جهادی ویاړونه ئی ګټلی اود نړی ستر کفر طاقت ته ئی ماته ورکړی ده.

ددیارلس کلن اوږد اوخونړی جهاد او حقه مبارزی دبریالیتوب په اوسنی پړاو کی دجهاد افتخارات په یوه فرد، تنظیم او سمت پوری تړل او منحصرکول په حقیقت کی دافغانستان دملیونونو شهیدانو او زمونږ دمیړنی ملت له قربانیو او دجهاد له مقدساتو سره نه بخښونکی خیانت دی او ددغه ستر خیانت مرتکبین به دهیواد په اسلامی تاریخ کی دتل لپاره رسوا او شرمنده وی.

په افغانستان کی دواقعی اسلامی نظام دټینګښت په هیله

تعلیم القرآن الکریم

د سورت صف لنډ تفسير

د «ابو ادریس» لیکنه

بسم الله الرحمن الرحيم

سبح لله مافی السموات ومافی الأرض وهو العزیزالحکیم○ یأیهاالذین آمنوالم تقولون ما لاتفعلون○ کبرمقتاعند الله آن تقولوا ما لاتفعلون○ إن الله یحب الذین یقاتلون فی سبیله صفا کأنهم بنیان مرصوص○ وإذقال موسی لقومه یاقوم لم تؤذوننی وقد تعلمون أنی رسول الله إلیکم فلما زاغوا أذاغ الله قلوبهم والله لایهدی القوم الفاسقین○ وإذقال عیسی بن مریم یا بنی اسرائیل إنی رسول الله إلیکم مصدقالما بین یدی من التوراة ومبشرا برسول یأتی من بعدی اسمه أحمدفلما جآء هم بالبینات قالوا هذا سحر مبین○

ومن أظلم ممن افتری علی الله الکذب وهو یدعی إلی ا لإسلام والله لایهدی القوم الظالمین○ یریدون لیطفئوا نورالله بأفواههم والله متم نوره ولو کره الکافرون○هوالذی أرسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله ولوکره المشرکون○ یآأیهاالذین آمنوا هل أدلکم علی تجارة تنجیکم من عذاب الیم○ تؤمنون بالله ورسوله وتجاهدون فی سبیل الله بأموالکم وأنفسکم ذلکم خیرلکم إن کنتم تعلمون○ یغفرلکم ذنوبکم و یدخلکم جنات تجری من تحتهاالأنهارو مساکن طیبة فی جنات عدن ذلک الفوز العظیم○ واخری تحبونها نصرمن الله وفتح قریب وبشر المؤمنین○ یاأیهاالذین آمنوا کونوا أنصار الله کما قال عیسی بن مریم للحوارین من انصاری إلی الله قال الحواریون نحن أنصارالله.فامنت طائفة من بنی اسرائیل وکفرت طائفة فأید نا الذین آمنوا علی عدوهم فاصبحوا ظاهرین○

دسورت لنډ مطلب:

داسورت مدني دی، په مفسرينو کی يو تن ورته مکی ويلی دی، خو قول يی شاذ دی.

کله چی انسان ددی سورت سوق او راندش ته ځير شی نو پوهيږی چی ددی سورت اصلی مقصد دادی چی مسلمانان، فی سبيل الله قتال، دشرعی حکم په حيث ومنی او عملاً فی سبيل الله قتال وکړی.دامقصد ددی سورت په٤-آيت کی واضح شوی دی.

ددی سورت نورآيتونه- که څه هم ډير عالی او اوچت مطالب لری- خو په حقيقت کی دهمدی مقصد په محور څرخيږی:ځينی آيتونه اشارةً جهاد د تسبيح او حمد او عبادت په قطار کی دروی لکه ددی سورت اول آيت: ددی سورت ځينی آيتونه دجهاد مصلحت اوګټه بيانوی لکه ١٠-١١-١٢-١٣ آيت. ددی سورت ځينی آيتونه دی چی دجهاد متخلفينوته دسزاء وعيد ورکوی لکه ٥-آيت،ددی سورت ځينی آيتونه دی چی دجهاد هدف او مقصد ته اشاره کوی او هغه کسان را معرفی کوی چی دهغوی په مقابل کی جهاد کيږی يعنی دهغوی اوصاف معرفی کوی، لکه ٦-٧-٨-٩ آيت.ددی سورت څوارلسم آيت چی آخر آيت دی مسلمانانو ته امرکوی چی دالله تعالی له دين سره عام نصرت وکړی که په قتال وی، که په وعظ او تبليغ، يا په تعليم او تربيه او نور...وی.

نو ددی سورت اصلی مقصد فی سبيل الله قتال ته دعوت دی، د سورت نور آيتونه په همدی مناسبت مطالب لری يا اشارةً يا صراحةً والله أعلم وعلمه اتم.

سبح لله مافی السموات ومافی الأرض وهو العزيزالحكيم○

ترجمه: په پاکۍ سره ياد کړی الله ټولو هغو شيانو چی آسمانو کی دی او ټولو هغو شيانو چی په ځمکه کی دی.الله دعزت خاوند دی دحکمت خاوند دی.

تفسير: ددغو شيانو دتسبيح معنی دا ده چی دوی سبحان الله والحمد لله وايی،دلته له تسبيح سره حمد هم شته خود ايجاز له وجی په تسبيح اکتفا شوی ده، ځکه چی الله تعالی بل ځای کی فرمايی:«وإن من شیءٍ إلا يسبح بحمده ولكن لاتفقهون تسبيحهم»(الاسراء/ ٤٤)ددغو شيانو تسبيح او حمد قال دی حال ندی ځکه چی قولی تسبيح او حمد دآيت ظاهره معنی ده، حاجت نشته چی غيرظاهر ته عدول وشی ځکه چی دقول لپاره ژبه لازمه نده، هغه ذات چی په ژبه قول جاری کوی، په هر څيز قول جاری کولی شی، داچی مونږ پری نه پوهيږو دهغه مانع نشی کيدی.

دلته يو اشکال رامينځ ته کيږی هغه دا دی چی په ځمکه کی کفار هم شته، دوی خو نه حمد وايی نه تسبيح، حال دا چی د«ما» کلمه خو عامه ده «ومافی الأرض».

ددی اشکال ځواب دادی چی دکافرانو، يو تکليفی حالت دی او بل اضطراری حالت، د کافر وجود، لکه د نورو کائناتو په شان دالله تعالی دعام سنت تابع دی نو اظطراری تسبيح وايی او د کافرانو په نسبت همدغه اضطراری تسبيح مراد ده. والله أعلم وعلمه أتم.

اضطراری تسبيح ثواب نلری، کوم تسبيح چی ثواب لری هغه اختياری تسبيح ده، هغه دمسلمان تسبيح ده چی په

خپله اراده او په خپله رضا یی وایی، نو په اشتباه او خطا کی واقع شوی دی هغه کسان چی شپه او ورځ ریاضت باسی ددی لپاره چی زړه یی په خارق العاده تو گه حرکت پیل کړی او اضطراری ذکر شروع کړی.دا هم څوك نشی ثابتولی چی زړه په هغه حرکت ذکر کوی، فرضا که ذکر هم وکړی ثواب په هغه کی نشته، له بلی خوا دی ته حاجت نشته چی ددی کار لپاره خپل وخت ضائع کړی ځکه هر زړه اضطراری ذکر لری حتیٰ دکافر زړه هم د الله تعالی تسبیح وایی خودا تسبیح یی په درد نه خوری.

الله تعالی ددی آیت په پای کی خپل دوه نومونه معرفی کوی چی یو یی «عزیز» دی، بل یی «حکیم» دی، نو په دی طریقه خپل دوه صفتونه هم معرفی کوی چی یو یی د«عزت» صفت دی بل یی د«حکمت» صفت دی، کوم«عزت» چی دالله تعالی صفت دی دهغه معنیٰ داده چی الله تعالی په هر چا او په هر کار قادردی، غالب دی، که څوك له ده سره مقابله وکړی،حتماً مغلوبیږی او که الله تعالی وغواړی چی له خپلو دښمنانو نه انتقام واخلی، په انتقام هم قادر دی، نو دا دعزت معنیٰ ده، دا عزت دالله تعالی صفت دی، ځکه چی عزیز دی.

دحکمت معنیٰ داده چی الله تعالی په خپل قدر او شرع دواړو کی «حکمت» لری،هیڅ کار یی له «حکمت» نه یعنی له مصلحت نه، له خیر نه او له فائدی نه خالی ندی، نه قدر یی نه شریعت یی. ددی خبری تفصیلی معنیٰ داده چی الله تعالی شیان پیدا کوی او په مو جوده شیانو کی گونا گون او رنگا رنگ تصرف کوی نو دالله دغو دواړو کاروته قدر ویل کیږی د الله تعالی دغه دواړه کارونه له «حکمت»څخه خالی نه وی.

همدا رنگه الله تعالی د هر امت لپاره شریعت یعنی حلال وحرام رالیږلی، نو د الله تعالی دغه کار ته شرع وایی، د الله تعالی دغه کار هم له حکمت څخه خالی نه وی، نو کله چی الله تعالی ځانته حکیم وایی معنیٰ یی دا ده چی دالله تعالی هم قدر او هم شرع په بل عبارت سره: دده خلق او دده امر دواړه حکمت لری، گټه اوفائده لری.

پاتی شو دا سوال چی الله تعالی دڅه مقصد لپاره مونږ ته خبررا کړ چی ټول شیان دده تسبیح وایی؟ او دڅه مقصد لپاره یی مونږ ته خبر راکړچی دی عزیز او حکیم دی؟

داول سوال ځواب دادی چی انسانان دکائناتو پیروی وکړی له هغوی څخه دتسبیح اوتحمید اواطاعت درس واخلی، که هغوی اضطراری تسبیح وایی دوی دی تکلیفی او شرعی تسبیح ووایی، دی اسلوب ته دتربیی علماء، د ایحاء اسلوب وایی، د ایحاء اسلوب دادی:کله چی څوك غواړی څوك تربیه کړی، دځینو اشخاصو یا دځینو مواقفو مدح کوی نو سامع، فکر او الهام آخلی، دی هم هماغه صفت په ځان کی پیدا کوی څو دده هم مدح وشی.

دلته هم کله چی سامع اوری چی الله تعالی دکائناتو مدح کوی چی دالله تعالی تسبیح وایی او دهغه عظمت او جلال ته منقاد دی نو دی هم الهام اخلی او دالله تعالی تسبیح وایی، عظمت او جلال ته یی تابع کیږی اومنقادیږی.

مونږ مخکی وویل چی ددی سورت اصلی مقصد جهاد دی یعنی د مسلمانانو تشویق دی جهاد ته، نوبناءپردی ددی پورتنی آیت ارتباط له جهاد سره په دی شان سره دی چی جهاد هم یوه نوع تسبیح ده، عبادت دی ځکه چی د الله تعالی حکم دی او په جهاد سره دهغو کسانوضرر دفع کیږی چی دالله ذکر وحمد وتسبیح له ځمکی نه ورك کوی.

ددوهم سوال ځواب دادی:الله تعالی ځکه ددی سورت په سر کی ځانته عزیز اوحکیم وویل چی الله تعالی وروسته ددی سورت په ٤-١١-١٤- آیتونو کی مسلمانان په قتال مکلف کوی، همدارنگه په دوهم آیت کی له دوی څخه غواړی چی دخپل قول او فعل په مینځ کی مخالفت را نه وړی،خلاصه داچی په دی سورت کی ئی هغوی په ځینو شیانو فرمایلی او له ځینو شیانو څخه یی منع کړی دی، ددی لپاره چی دوی عقلاً په دی امر ونهی قانع شی دمخه ئی دوی ته خبر ورکړ چی کوم امر اونهی چی زه یی تاسوته متوجه کوم، ستاسو په خیر دی، شر او فساد په کی نشته او نه عبث دی، ځکه چی زه حکیم یم زما امر اونهی له حکمت څخه خالی نه وی، نو په همدی وجه دی:کله چی ددی سورت په١١آیت کی وایی: وتجاهدون فی سبیل الله بأموالکم وأنفسکم ورسره متصل وایی: ذلکم خیرلکم إن کنتم تعلمون.

دتربیت علماء دی اسلوب ته د اقناع اسلوب وایی.دا اسلوب،دتربیبی، یوه طریقه ده، قرآن کریم دانسانانو دتوبیت لپاره دا اسلوب په کار اچولی دی، یعنی کله چی هغوی په احکامو مکلف کوی نو دهغواحکامو مصلحت اوخیر کله مجمل، کله مفصل ورته بیانوی، څو د دوی عقل قانع شی او دقناعت له مخی هغه احکام ومنی او عمل پری وکړی. دا خود«حکیم» دکلمی د ذکر کولو مقصد ؤ اما د «عزیز» کلمه دی ته اشاره ده:کله چی الله تعالی مسلمانان په قتال مکلف کړل نو که دوی په یو محکم صف کی دالله تعالی په لاره کی مقاتله وکړی، او ثابت پاتی شی نو الله تعالی دوی ته په دښمن غلبه ورکوی لکه چی دهمدی سورت په ١٣آیت کی وایی: «وأخری تحبونها نصرمن الله وفتح قریب» او په ١٤ آیت کی وایی:

«فایدنا الذین امنوا علی عدوهم فأصبحوا ظاهرین» او په ٩آیت کی وایی:

«لیظهره علی الدین کله ولوکره المشرکون».

او که څوک دالله تعالی امر ونه منی الله تعالی له هغه څخه انتقام اخلی لکه چی دهمدی سورت په ٥آیت کی وایی:«فلما زاغواأزاغ الله قلوبهم والله لایهدی القوم الفاسقین».

دغو مطالبو ته داشاری وجه داده چی الله تعالی عزیز دی په خپل امر غالب دی، هره إراده دده دإرادی په مقابل کی مغلوبه ده، دی په انتقام قادر دی.

«یاأیهالذین آمنوالم تقولون مالا تفعلون.کبر مقتاعندالله آن تقولوا مالاتفعلون».

ترجمه:ای مؤمنانو ولی په خوله وایی چی دا کار کوو بیا یی نه کوی!

دالله تعالی دلوی بغض او بد انگیرنی سبب گرځی چی په خوله وایی بیا یی نه کوی!

دنزول سبب:ددی سورت په عام ډول بیا ددغو پورتنیو دوو آیتونو دنزول سبب دادی چی عبدالله بن سلام روایت کوی:عبدالله بن سلام وایی مونږ څو تنو اصحابو وویل: که مونږ وپوهیږو چی کوم عمل د الله تعالی په وړاندی ډیر غوره دی نو حتماً هغه عمل کوو، کله چی دجهاد حکم نازل شو نو جهاد دځینو خلکو په طبیعت برابر رانغی، نو دغه سورت نازل شو.دا اثر لاندی خلکو تخریج کړی:د ارمی، واحدی، احمد، حاکم دشیخینو په شرط او ترمذی، ابن حجر

دی اثر ته صحیح ویلی دی.

دهمدی اثر په شان بل اثر طبری له عبدالله بن عباس نه روایت کړی دی، طبری دا اثر په خپل سند سره له ابن ابی طلحه څخه روایت کړی او ابن ابی طلحه د عبدالله ابن عباس څخه روایت کړی، ابن ابی طلحه اگر که دغه اثر له عبدالله بن عباس نه اوریدلی ندی او خپل شیخ یې ساقط کړی دی خودغه ساقط سړی په تتبع سره ثقه وتلی دی نو دابن عباس دا اثر هم صحیح دی.

تفسیر: ددی آیت تفسیر دادی: الله تعالی مسلمانانو ته وایی کله چی تاسی کومه خبره کوی او هغه خبره عملی جنبه هم ولری یعنی دینه عمل دکولو خبره وی یا دبد عمل د نه کولو خبره وی نو حتماً په هغه خبره عمل وکړی هغه ښه کار وکړی او هغه بد کار ترك کړی، خپل قول د عمل خلاف مه گرځوی! په خپل شخصیت کی بی موازنگی او تناقض مه پیدا کوی دا کار له مسلمان سره نه جوړیږی، بلکه د الله تعالی دبغض او سختی بدانگیرنی سبب گرځی.

ددی آیت دعمومیت په لحاظ دغه لاندې کارونه په انسان لازمیږی چی حتماً ئی باید وکړی:

۱- په خپله وعده وفا وکړی، که نه دده دقول او فعل په مینځ کی به خلاف راشی.

۲-په خپلو قراردادونو او تعهداتو عمل وکړی.

۳- که داعی وی، دهر چانه دمخهٔ ددعوت په موضوع عمل وکړی.

٤- په خپلو نذرونوٌ وفا وکړی.

٥-او که عالم وی په خپل علم دی عمل وکړی.

ددغه آیت په تائید د دغو احکامو په ارتباط دغه لاندی آیتونه هم راغلی دی:

۱-أتأمرون الناس بالبر وتنسون أنفسکم .

۲- شعیب علیه السلام خپل قوم ته وایی: «وماأریدان أخالفکم إلی ما أنهاکم عنه».

۳-و اوفوابالعقود.

٤-و أوفوا بالعهدإن العهدکان مسئولا.

٥- واذکر فی الکتاب اسما عیل انه کان صادق الوعد.

ممکن خوك دلته پوښتنه وکړی چی دپورتنی آیت اسلوب د استفهام او تعجب اسلوب دی نو ددی اسلوب څخه معلومیږی چی دبعضو مسلمانانو څخه په واقع کی یو قول صادر شوی دی بیا عملی شوی ندی، نو دا یو خاص او معین قول دی، آیا په قرآن کریم کی داسی آیت شته چی هغه معین قول ته اشاره شوی وی یا تصریح پری شوی وی؟

په ځواب کی ویل کیږی چی هو، دغه قول معلوم دی په جهاد پوری مربوط دی او دغه لاندی آیتونه په هغه دلالت کوی:

۱- ولقد عاهدوا من قبل لا يؤلون الا دبار.

۲- ویقول الذین آمنوا لو لانزلت سورة فإذا أنزلت سورة محکمة وذکر

فیها القتال رأیت الذین فی قلوبهم مرض ینظرون إلیک نظر المغشی علیه من الموت.

له پورتنی درس څخه ددغه آیت رابطه دجهاد له موضوع سره چی دسورت اصلی موضوع او مقصددی هم معلومه شوه.

إن الله یحب الذین یقاتلون فی سبیله صفا کأنهم بنیان مرصوص.

ترجمه: دالله خوښیږی هغه کسان چی دده په لاره کی دکلك تعمیر په شان په یو صف کی جنگیږی.

تفسیر: بنیان مرصوص هغه تعمیر ته وایی چی هیڅ خلل او چود په هغه کی نه وی، مقصد له صف څخه ظاهری صف او ظاهری قطار ندی، ځکه چی د قتال په وخت کی داسی صفونه ډیر کم جوړیږی بلکه اشاره ده ښه نظم ته، وحدت دعمل او نظرته، مینه محبت ایثار او فداکاریٔ ته بالآخره ثبات او دهغو ټولو اسبابو فراهم کولو ته چی دقوت او نصرت سبب گرځی او دهغو ټولو اسبابو ورك کولو ته چی دتفرق، اختلاف اونزاع او بی ثباتی سبب گرځی.

کوم کار چی دالله تعالی خوښیږی دهغه مقتضی داده چی دهغه کار خاوند ته دجنت ثواب ورکوی، ورڅخه راضی کیږی، له دوزخ څخه یی ساتی په دنیا کی ورته عزت ورکوی، د دنیا او آخرت سمه لاره ورته ښئی لاندې آیتونه ددی تفسیر شاهد دی.

۱- «والذین جاهدوافینا لنهدینهم سبلنا» (عنکبوت/٦٩)

۲- «وتجاهدون فی سبیل الله باموالکم وأنفسکم ذلکم خیرلکم إن کنتم تعلمون یغفرلکم ذنوبکم وید خلکم جنات تجری من تحتها الأنهار ومساکن طیبة فی جنات عدن ذلک الفوزالعظیم.»

جهاد شرعی حکم دی باید په ښه صورت اداء شی. جهاد باید دالله تعالی په لاره کی وی نه دبل مقصد لپاره، ضروردی چی یومحکم صف ورته جوړ شی. ددی سورت اصلی مقصد جهاد ته دمسلمانانو تشویق دی په دی سورت کی اگر که نور مقاصد هم شته چی ذاتی اوچتوالی لری لکه تسبیح او دالله تعالی آسماء او صفات، اما دبیان په نسبت دجهاد موضوع په کی اصلی مقصد دی.

«وإذ قال موسی لقومه یا قوم لم تؤذوننی وقد تعلمون أنی رسول الله إلیک فلمازاغواأزاغ الله قلوبهم والله لایهدی القوم الفسقین.»

ترجمه: یاد کړه هغه وخت چی موسی خپل قوم ته وویل ای زما قومه ولی ما آذیت کوی او تاسی پوهیږی چی زه تاسو ته د الله رسول یم کله چی دوی کاږه شول الله تعالی د دوی زړونه کاږه کړل الله تعالی فاسق قوم ته هدایت نه کوی.

تفسیر: دا آیت هم جهاد پوری ارتباط لری، الله تعالی مسلمانانوته خبر ورکوی چی په جهاد کی سستی ونکړی که نه دموسی علیه السلام دقوم په څیربه جزا ورته ورسیږی.

موسی علیه السلام خپل قوم ته وویل: «یاقوم ادخلوا الأرض المقدسة التی کتب الله لکم ولاترتدواعلی أدبارکم فتنقلبوا خاسرین.»

احمد شاه ((وحدت)) Ahmad Shah (Vahdat) A. K. P. O.

نو هغوی ورته وویل:

«یاموسی إنالن ندخلها أبدا ماداموا فیها فاذهب أنت وربک فقاتلا إناههنا قاعدون.»

نو دا دقوم آذیت ځ چی موسی علیه السلام ته یی ورساوه. هغه ورته دجهاد او قتال امر ورکړ، دوی دهغه امرعملی نکړ، طبعاً دپیغمبر نافرمانی د هغه د آذیت سبب گرځی، الله تعالی مونږ ته خبر راکوی: کله چی ددوی عمل کوږ شو، نو انتقاماً ما د دوی زړونه کاږه کړل، د دوی په زړونو کی می دنفاق او کفر مرضونه پیدا کړل، دا خو دالله تعالی سنت د ی ځوك چی کومه گناه وکړی، دهغه په زړه کی یو داغ پیدا کیږی، که اصرار پری وکړی، هغه داغ ټول زړه نیسی وریسی کافر کیږی.

دقوم آذیت موسی علیه السلام ته ذاتی آذیت نه ځ ددی جملی په قرینه چی وایی: «وقد تعلمون أنی رسول الله إلیکم.»

نو بنا پردی د آذیت تفسیر په پورتنی ډول ډیر ښه مناسب دی اما کیدی شی چی عام آذیت مراد شی حتی چی ذاتی آذیت ته هم شامل شی، ځکه چی موسی علیه السلام ته دوی هر ډول آذیت رسولی ځ لکه چی لاندی آیتونه دهغه بیان کوی:

۱- «واذ قلتم یا موسی لن نؤمن لک حتی نری الله جهرة...»

۲-«وإذ أخذنا میثاقکم ورفعنا فوقکم الطور خذواماآتینا کم بقوة واسمعوا...»

مگر دموسی علیه السلام قوم تمرد کوی داسی وایی: «سمعنا وعصینا.»

په صحیح حدیث کی راځی چی دموسی علیه السلام قوم ویل چی موسی علیه السلام آدردی چوره دی، نو ددی؟ لپاره چی دده براءت ثابت شی الله تعالی تیگی ته امر وکړ چی دموسی علیه السلام جامه دده دغسل په وخت کی وتښتوی ځو دی بر بنډ دقوم په مخکی ودریږی او قوم ته معلومه شی چی داعیب په هغه کی نشته.

ددی آیت رابطه له جهاد سره داسی ده چی الله تعالی مونږ ته فکر راکوی چی دبنی اسرائیلو په شان نشو،باید چی په محکم صف کی په ثبات سره جهاد وکړو ځو دهغوی په سرنوشت اخته نشو.

په دی آیت کی هم دتربیت له اسالیبو څخه دایحاء اسلوب پکار اچول شوی دی یعنی په دی آیت کی دبنی اسرائیلو ذم او نکوهش شوی ددی لپاره چی دهغوی په شان کار ونکړو. کوم مفاهیم چی ددی آیت څخه معلومیږی دا دی چی دپیغمبر له آوامرو څخه تمرد کول دهغه دآذیت سبب گرځی، او اصرار په گناه باندی دنفاق او بلاخره دکفر او ارتداد سبب گرځی.

واذقال عیسی بن مریم یا بنی اسرائیل إنی رسول الله إلیکم مصدقا لما بین یدی من التوراة ومبشراً برسول یأتی من بعدی اسمه أحمد فلما جاء هم بالبینات قالوا هذا سحر مبین.»

ترجمه: یاد کړه هغه وخت چې عیسی دمریمې زوی وویل: ای بنی اسرائیلو! زه تاسوته دالله تعالی رسول یم زه دهغه کتاب تصدیق کوونکی یم چې له مانه مخکې دی چې هغه تورات دی او زیری درکونکی دهغه رسول یم چې له مانه وروسته راځي، نوم یې احمد دی. کله چې احمد دوی ته روښانه دلائل راوړل دوی وویل: دا ښکاره سحر دی.

تفسیر: عیسی ابن مریم علیه السلام کله چې بنی اسرائیلو ته مبعوث شو نو دخپل رسالت د اداء کولو لپاره یې هغوی ته وویل چې په ما ایمان راوړئ چې زه دالله رسول یم، کافی براهین او حجج اوبینات او معجزی له ماسره شته چې زما درسالت ثبوت کوی، علاوه په دغو معجزو تورات هم زما تصدیق کوی او زه هم دتورات تصدیق کوم نو ایمان په ما عینا ایمان په تورات دی او زما انکار دتورات انکار دی نوکه تاسی په تورات ایمان لرئ دا ایجابوی چې په ما هم ایمان راوړئ او که په ما ایمان رانوړئ نو دتاسو ایمان په تورات باندی بی معنیٰ دی.

همدا رنگه زه دهغه رسول د راتگ تاسوته زیری درکوم چه نوم یې احمد دی او ماپسی مباشرةً بلا واسطه راځي، خلاصه داچه زما دین او رسالت دټولو پیغمبرانو له رسالت سره موافق دی مخکی دی او که وروسته راځي دالوی دلیل دی زما په صدق باندی.

مگر بنی اسرائیل دوه ډلی شول: بعضو پری ایمان راوړ او بعضی پری کافر شول لکه چی د«مائدی» په سورت کی وایی: «**فقال الذین کفروامنهم إن هذا إلا سحر مبین.**» او لکه چی ورو سته دصف په سورت کی وایی:

فأمنت طائفة من بنی اسرائیل وکفرت طائفة.

الله تعالی دعیسی علیه السلام او د بنی اسرائیلو قصه مونږ ته ددی لپاره وکړه چی مونږ باید دهغوی په شان نشو چی بعضی په محمد صلی الله علیه وسلم ایمان راوړو او بعضی تری منکر شوو، بلکه ضرور ده چی مونږ ټول په محمد صلی الله علیه وسلام ایمان راوړو ځکه چی دی په حقه پیغمبر دی، دده پیشگوئی په ټولو کتابونو کی شوی ده: «**الذین یتبعون الرسول النبی الأمی الذی یجدونه مکتوبا عندهم فی التوراة و الا نجیل**» (**الأعراف / ۱۵۷**)

.ممکن څوك دا پوښتنه وکړی چی آیا په موجوده اناجیلو کی درسول الله صلی الله علیه وسلم د راتگ بشارت موجود دی او که نه؟

ددی پوښتنی ځواب دادی:که څه هم دغه أناجیل تحریفی أناجیل دی خو دعیسی علیه السلام دهغی خبری اثر چی قرآن تری نه حکایت کوی په دغو أناجیلو کی شته:

دیو حنا انجیل په (۱۰) باب کی عیسی علیه السلام ته داخبره منسوبه ده:

که زه دتاسو خوښيږم زما وصيت ومنئ زه له پلاره غواړم چې تاسوته بل فاراقليط درکړي.
چې هميشه تاسو سره پاتې شي. د انجيل دانسخه په ١٨٣١ او١٨٣٣ ميلادي کال دلندن په ښار کې چاپ شوې ده.
فاراقليط يوناني لغت دی، اصلي لفظ يې (بيرکلوت) دی معنیٰ يې احمد يا محمد دی.

دبرنابا په انجيل کې په صراحت اوتکرار سره، دمحمد نوم ليکل شوی ورپسې دا ليکل شوي دي چې دی دالله تعالی رسول دی.

شيخ محمد بيرم، له يوه انگريزي سياح څخه حکايت کوي دغه سياح ويلي دي چې ما د بابويه په کتابخانه کې يوه نسخه انجيل وليد چې درسول الله صلی الله عليه وسلم له بعثت نه مخکې او په حميري خط ليکل شوی ؤ، په دې انجيل کې مسيح داسې ويلي دي چې عربي ترجمه يې کټ مټ داده: مبشرا برسول يأتی من بعدی اسمه أحمد.

داوه دبني اسرائيلو معامله له عيسی عليه السلام سره ددعوت په ارتباط. او س گورو چې دغه بني اسرائيل او مشرکان درسول الله صلی الله عليه وسلم سره څه معامله کوي ؟

قرآن وايي: سره له دې چې عيسی عليه السلام دمحمدصلی الله عليه وسلم دراتگ زيری ورکړیٰ ؤ،او رسول الله صلی الله عليه وسلم له ځانه سره آيات بينات، واضح دلائل راوړي وو، خو دوی درسول الله صلی الله عليه وسلم دعوت ردکړ بالآخره ددوو کفرونو مرتکب شول :

يو د تکذيب کفر بل دافتراء کفر.

د تکذيب کفر يې داؤ چې درسول الله صلی الله عليه وسلم آيات بيناتو ته يې سحروويل،د دروغو نسبت ئې ورته وکړ،وئې ويل چه داايات ندي براهين ندي بلکه سحردی، دتاله خوانه جعلي او ساختگي شيان دي، همدا د تکذيب معنیٰ ده.

د افتراء کفر ئې داؤ چې دوی په الله تعالی شرك افتراکړ، چاورته زوی يالورگانې ثابت کړې ، چاورته ښځه، چاورسره په عبادت کې شريکان پيداکړل، ددې سورت د(٦) آيت آخر ددوی اول قسم کفرته اشاره کوي : «فلما جاء هم بالبينات قالوا هذاسحر مبين» ، او ددې سورت د(٧)آيت اوله برخه ددوی دوهم قسم کفرته اشاره کوي، لکه چې وروسته وايي:« ومن اظلم ممن افتری علی الله الکذب»

ضروربولم چې دکفر اوفسق اصل او بيخ ته اشاره وکړم، اصل اوبيخ په دې معنیٰ چې دکفر او فسق ټول انواع او ټول جزئيات په هغه کې راغونډيږي. پوه شه چې دهر کفر او فسق اصل دوه شيان دي: يوتکذيب دی، بل افتراء اده، مراد په تکذيب سره، تکذيب د(ماثبت فی الإسلام) دی قرآن پاك همدی کارته ، دآياتو تکذيب وايي. دا تکذيب کله دژبې وی يعني ژبه مکذبه واقع کيږي، کله دعقيدې وی يعني عقيده مکذبه واقع کيږي، کله عمل وی يعني دعمل مکذب واقع کيږي. بيا دا درې واړه تکذيبونه، کله کفر ته منجر کيږي،کله فسق ته، هريو ځان ته مثال لري، وخت اجازه نه راکوي چې بيان شي.

دافترا ءمعنی داده چې څوك بې علمه، دين پوري، الله تعالی پوري يا پيغمبر پوري يوه خبره يايو کار منسوب کړي،

دا افتراءهم عامه ده، کله دژبي افتراءوی یعنی ژبه مفتری شی، کله عقیدوی افتراء وکړی کله دعمل افترا وي، بیا دا دری واړه افتراګانی کله کفر ته منجرکیږی او کله فسق ته، داهم ځان ته مثالونه لری، شرك یعنی عبادت غیر الله ته هغه افتراده چه کفر ته منجرکیږي. په دین کي هر بدعت پر الله باندي افتراء ده، لویه افتراء او لوی بدعت زمونږ په عصرکی دا دی څوك چی دسنتو پیروی وکړی هغه ته «وهابی» وایی. کله چی مونږ دکفر او فسق اصل او بنیاد وپیژاند نو داسلام اصل او بنیاد هم پیژندلی شو چه، هغه دوه شیان دی:

اول- دآیاتونو تصدیق وشی یعنی کوم شی چی په اسلام کی ثابت دی، قولا،او فعلاًاو عملاًدهغه تصدیق وشی.

دوهم- په الله تعالی او دهغه په رسول پوری افتراءونشی، نه قولاً نه عقیدةً نه عملاً، دغه دواړه اصلو نه په دی آیت شریف کی بیان شوی دی: « **ومن اظلم ممن افترى على الله كذبا او كذب بأياته إنه لايفلح الظالمون. ولاتقف ماليس لك به علم إن السمع والبصروالفؤاد كل اولئك كان عنه مسئولا. (الاسراء- ٣٦)**

« **ومن أظلم ممن افترى على الله الكذب وهو يدعى إلى الإسلام والله لايهدى القوم الظالمين** ».

ترجمه: څوك ډیر زیات ظالم دی له هغه چانه چی په الله دروغ جوړوی حال دادی چی دی اسلام ته دعوت کیږی؟! الله ظالمان په سمه لاره نه برابر وی.

تفسیر: په دی آیت کی داهل کتابو اومشرکانو دوهم قسم کفر ته اشاره ده هغه دادی چی دوی په الله تعالی باندی افتراءوکړه:یعنی له ده سره ئی شریکان پیداکړل، ده ته ئی ښځه، او لاد او لورګانی ثابتی کړی همدارنګه نوری بی حسابه افتراګانی ئی پری وکړی، نو الله تعالی دوی ته په همدی دنیا کی جزاء ورکړه، د دوی زړونه ئی کلك کړل، د هدایت استعداد ئی تری واخیست او الله تعالی دهر ظالم سره دا کارکوی، دایی سنت دی.

« یریدون لیطفئوا نور الله بافواههم والله متم نوره ولو کره الکافرون».

ترجمه: دوی غواړی چی دالله نور په خپلو خولو مړکاندی، الله خپل نور پوره کوونکی دی اګر که کافران پری خفه کیږی.

تفسیر: مخکی په دووآیتو کی ، الله تعالی بیان کړل چی مشرکانو او اهل کتابو درسول الله صلی الله علیه وسلم درسالت په مقابل کی دوه ډوله کفر وکړ،دتکذیب کفر او دافتراء کفر په دی آیت کی بیانوی چی د دوی کفر، دجهل له مخی نه ؤ، بلکه دعناد له مخی ؤ، دوی پیژانده چی دادالله نوردی، دالله دین دی، خو غوښتل یی چی محوه یی کړی، نابودئی کړی، یادپیغمبر په قتل سره ئی ختم کړی، یادهغه مبادی، آیات بینات دروغ معرفی کړی، سحرئی معرفی کړی، خو دوی دا کار نشی کولی، دوی ته دا کاردومره محال او ناممکن دی ، لکه څوك چه غواړی د خو لی په پوکی دلمر رڼا مړه کړی، دوی داکار نشی کولی، ځکه چه دا عادی نورندی، دالله نوردی، او دالله اراده دهغه ترشا ولاړه ده،خامخائی پوره کوی،هم ئی دمبادیو له حیثه پوره کوی او هم ئی دتطبیق او پیروانو له حیثه پوره کوی، دا پیشګویی

محققه شوه،رسول الله صلی الله علیه وسلم ترهغه وخته پوری چاړنشو کړی چی دین پری مکمل شو«**الیوم أکملت لکم دینکم وأتممت علیکم نعمتی ورضیت لکم الإسلام دینا**».

رسول الله صلی الله علیه وسلم ترهغه وخته پوری ژوندی ؤچه دین یی په عربی جزیره کی په مکمل ډول تطبیق شو.

«**هو الذی أرسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله ولوکره المشرکون**».

ترجمه: الله هغه ذات دی چی خپل پیغمبر ئی له هدایت او حق دین سره لیږلی دی، څو غالب ئی کړی په ټولو ادیانو باندی اگر که پری خفه کیږی مشرکان.

تفسیر: الله تعالی شهادت ورکوی چی محمد صلی الله علیه وسلم دده رسول دی، دالله تعالی له خوا ئی خلکو ته درسته عقیده او دعمل گټوراحکام راوړی دی،

بیا الله تعالی وعده کړیده چی دغه دین به په ټولو ادیانو غالب گرځوی په دی معنٰی چه دنورو ادیانو پیروی به عملاپه واقع کی له منځه ځی او دنړی خلك به طوعاً یاکرهاً ددی دین تابع گرځی:څوك چه په رضاتابع کیږی نو عزیزبه شی، څوك چه کرهاً او په ذلت سره ورته تابع کیږی نو ذلیل به وی ،داوعده یو ځل یاڅو ځله متحققه شوی ده که عام اماکن مراد نه شی، یادتحقق وخت ئی پاتی دی که عام اماکن مرادشی.

ابن کثیر ددی آیت دتفسیر په ارتباط کی وایی:په صحیح حدیث کی رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دی:

إن الله زوی لی الارض مشارقها ومغاربها وسیبلغ ملك امتی مازوی لی منها)

امام احمد بن حنبل له تمیم داری رضی الله عنه څخه روایت کوی، ده وویل چی ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریده چی ویل به ئی:

«**لیبلغن هذا الأمر مابلغ اللیل والنهار ولایترك الله بیت مدر ولا وبرإلاأدخله هذا الدین یعز عزیزاً ویذل ذلیلاً عزاًیعز الله به الاسلام وذلایذل الله به الکفر**».

امام احمد له مقداد بن اسود رضی الله عنه څخه روایت کوی

ده وویل چی ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریده چی ویل به ئی:«**لایبقی علی وجه الارض بیت مدر والاوبر الاادخلته کلمة الاسلام یعز عزیز او یذل ذلیلا**: إما یعزهم الله **فیجعلهم من اهله وإما یذلهم فیدینون لها**».

ددغوڅلورو مخکنیو آیتونو ارتباط له جهاد سره چی دسورت اصلی مقصد دی په دی شان سره دی:

اول- مسلمانانو ته دقتال محل معرفی کوی وایی چی جهاد دهغو خلکو په مقابل کی کیږی چی دالله دین خلکو ته دروغ معرفی کوی، یاپه الله افتراگانی کوی.

دوهم- داچی دا آیتونه دقتال هدف او غایه دوی ته معروفی کوی هغه غایه او هدف دادی چی دالله تعالی حق دین په نورو ادیانو غالب شی. داسلام نه په غیر په ځمکه کی بل دین پاتی نشی (وقاتلو هم حتی لاتکون فتنة ویکون الدین کله لله)الله تعالی دانفال سورت په دی آیت کی له مسلمانانو څخه غوښتی دی چی په خپل قتال کی دټولو کفری ادیانو محوکول په نظر کی ونیسی، داغو ښتنه دالله تعالی شرعی اراده ده او شرعی غوښتنه ده، دصف د سورت په دی آیت کی چی وایی: «یظهره علی الدین کله» داتکوینی اراده او قدری اراده ده، نو هرومرو داسی ورځ راتلونکی ده چی دغه شرعی اراده به ددغی تکوینی او قدری ارادی ښایسته زرین لباس په تن کوی او عملاًبه ددنیا ټول خلك اسلام ته غاړه ږدی ، داوخت نژدی دی،ځکه چی پوهان خلك په دی پوه شوی دی چی داسلام نه په غیر، انسان ته بله پناه گاه او دنجات ځای نشته .

«یاایها الذین آمنوا هل أدلکم علی تجارة تنجیکم من عذاب الیم، تؤمنون بالله ورسوله وتجاهدون فی سبیل الله باموالکم وانفسکم ذلکم خیر لکم إن کنتم تعلمون.یغفرلکم ذنوبکم ویدخلکم جنات تجری من تحتها الأنهارو مساکن طیبة فی جنا ت عدن ذلک الفوز العظیم وأخری تحبونها نصرمن الله وفتح قریب وبشرالمؤمنین○»

ترجمه: ای مؤمنانو آیاتاسو ته وښیم یو تجارت یعنی بیعه چی تاسو ته له دردوونکی عذاب څخه نجات درکړی ، ایمان راوړی په الله او دده په رسول، او جهاد وکړی د الله په لاره کی په خپلو مالونو او په خپلو نفسونو دا جهاد ښه دی تاسو ته که پو هیږئ. وبه بخښی تاسو ته دتاسو گناهو نه داخل به موکړی داسی باغوته چی دهغوی لاندی ویلی بهیری، داخل به موکړی دعدن جنت په قصرونو کی، دا کار تاسوته لویه کامیابی ده، تاسو ته بل خصلت هم شته چه دتاسوخوښ دی، هغه د الله مدد دی او نژدی فتح ده، مسلمانانو ته زیری ورکړه!

تفسیر: الله تعالی په دغو آیتونو سره مسلمانان،دجهاد لپاره تربیه کوی، ددغو آیتونو سوق ددی لپاره شوی دی چی مسلمانان، دجهاد لپاره تربیه شی، دجهاد او قتال حکم چی په دوی فرض دی، هغه له قناعت سره قبول کړی، په سهولت سره عملی جهادته آماده شی، خو اسلوب د تربیت په دغو آیتونو کی،دتربیت دعلم له نظره کاملاقناعی دی، اقناعی اسلوب ذیته وایی چی د حکم فائده او مصلحت هم بیان شی، دلته الله تعالی دجهاد ډیری فائدی بیان کړی دی، اوله فائده ئی داده چه جهاد دعذاب الیم دنجات سبب گرځی. ددنیا عذاب الیم وی لکه ذلت او که دآخرت عذاب الیم وی لکه دوزخ.

دوهمه فائده ئی داده چه گناهونه ئی وربخښل کیږی، هغه گناهونه چی لکه مار او لړم غوندی سړی خوری .

دریمه فائده یی داده چی د نعمتونو په باغو او قصروکی ئی داخلوی.

څلورمه فائده ئی دا ده چی فتح او نصرت ورته په برخه کوی .

«یاایهاالذین آمنواکونوا أنصارالله کما قال عیسی بن مریم للحوارین من انصاری إلی الله، قال الحواریون نحن انصارالله فأمنت طائفة من بنی اسرائیل و کفرت طائفة فأید ناالذین آمنواعلی عدو هم فأصبحواظاهرین».

ترجمه: أی مؤمنانو د الله مدد گار ان شی، لکه چی عیسی بن مریم خپلو خاصانو ته وویل: څوك له ماسره دالله په دین کی کومك کوی؟ دده خاصانو وویل مونږ د الله ددین کومك گران یو، نو دبنی اسرائیلو یوی ډلی ایمان راوړاو بله ډله ئی کافره شوه نومونږ مؤمنی ډلی ته غلبه ورکړه ددوی په دښمن باندی نو دوی بریمن شول.

تفسیر: دا آیت دسورت آخر آیت دی داخاتمه دسورت ده، نو کوم مطلب چی موقعیت ددی آیت دهغه مقتضی دی هماغه افاده کیږی، موقعیت ددی آیت ددی مقتضی دی چی دلته عام ارشاد وشی ځکه چی په مخکی آیتونو کی خاص ارشاد شوی ؤ چی ایمان او جهاد دی نو دلته عام ارشادکیږی ، دوی ته دعوت ورکول کیږی چی په جهاد باندی اکتفاء ونکړی بلکه ډیر نور ښه کارونه او خصلتونه شته چه د الله تعالی ددین دنصرت سبب گرځی هغه هم انجام کړی لکه امر بالمعروف او نهی عن المنکر، انفاق فی سبیل الله ولاء اوبراء اوداسی نور، الله تعالی مسلمانانو ته امر وکړ چی په هره شرعی وسیله د الله تعالی ددین نصرت وکړی که په قتال وی که په کومه بله طریقه وی، همدغه وجه ده چی (کونوا انصارالله)ئی وویل، او داسی ئی ونه ویل چی(کونوا مقا تلین فی سبیل الله) ځکه چه نصرت ددین په غیر دقتال سره هم ضروردی لکه چه په قتال سره ضروردی امادجهاد درجه بیخی او چته ده ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم جهاد ته(ذروة سنام الإسلام) ویلی دی. الله تعالی ددی آیت په پای کی دبنی اسرائیلو دهغی ډلی مدحه کړی ده چی دعیسی علیه السلام غوښتنی ته ئی مثبت ځواب ورکړی ؤ او په صداقت سره ئی اعلان کړی ؤ چی مونږ دالله تعالی ددین مددگاران یو، الله تعالی هم دوی ته قوت ورکړ، ددوی تائیدئی وکړاو په خپلو دښمنانو ئی غالب وگرځول، په دی قسمت کی د تربیت دإیحاءاسلوب په کار اچول شوی، دلته الله تعالی دبنی اسرائیلو دمسلمانی ډلی مدح کړی ده چی هغوی په پوره اخلاص او ثبات سره دالله تعالی ددین نصرت کړی ؤ نو الله تعالی دوی په خپل دښمن باندی غالب وگرځول او بری ئی ورپه برخه کړ.

دا مدح ئی مونږ ته ددی لپاره وکړه چی مونږ ددی مدحی نه إلهام او فکر و اخلو، دهغوی په نقش قدم روان شو څو دالله تعالی نصرت راشی او په خپل دښمن باندي غالب شو.

(والصلاة والسلام علی رسول الله محمد وآله وصحابته آمین)

رښتینی شهید

دشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) مرثیه

دتقوئ عظیم نښان وی، دعلمیت په پلوشو کی
یو مسکا وی خپره شوی، دگلونو په ورمو کی

دثبات عالی ځښتن وی، یو عازم دتفکر وی
یو عنوان وی چه ښکاره شوي، داسلام په تاریخو کی

یو یادگار ددی صدئ وی، شجاعت وی هر یو زړه ته
شاگردانو دی دا نوټ کړل، دزړگو په کتابچو کی

یو پیغام دداسی ژوند وی، هغه ژوند چه حقیقت وی
په غورونو کی داخل شوی، هم دسترگو په لیمو کی

دړندو دلاس عصاوی، مستضعفو ته نیونکی
منجی دهغه چاوی، څوك چه بند وو په پنجرو کی

یو سمبول داتحاد وی، داسلام په امارت کی
لکه باد دی محرك کړل، ویده خلك تورو شپو کی

داسلام په ننگیالو کی، نمونه مرد میدان وی
ځلاند ستوری وی ختلی، دافغان په آسمانو کی

افتخار دی شهادت شو، داسلام درسته نړۍ کی
یو نسیم وی چه راخپور شوی، داسلام په غرو رغو کی

وی یو صبرد نادودو، رهنماد هری ستونزی
په هر درد باندی دردمنه، هم شریکه په سلگو کی

ته خو لاړی خو شوی پاتی، دنفاق لمبی وطن کی
دنجات ورته څوك نشته، خلك سوزی په فتنو کی

دافغان دباغ مالیاره، دافغان دعزت تاجه!
یو شمله شوی راولاړه، په درنو درنو پټکو کی

یو سرخط شولی دنثر، څوك چه تا پیژني زړه کی
هم دنظم ستر عنوان ئی، «افسوس» یادکړی په شعروکي

په اسلام کې د مسلمان امیر اهمیت

(دشهید شیخ جمیلُ الرحمن (رحمه الله) له خطباتو څخه)

د شهید شیخ جمیل الرحمن(رحمه الله) هغه وینا چه د(۱٤۱۱هـ ق) کال دمحرم الحرام د میاشتي په (۲۷) نیټه یی دجمعی مبارکی په ورځ د څوکۍ د ولسوالۍ مجاهدو خلکو ته دولسوالۍ په انګړ کی ایراد کړه.

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد:فاعوذبالله من الشیطن الرجیمO بسم الله الرحمن الرحیمO

یاایهاالناس اتقواربکم الذی خلقکم من نفس واحدة وخلق منها زوجها وبث منهما رجالاً کثیراً ونسآءً واتقوا الله الذی تسآء الون بهٖ والارحام ان الله کان علیکم رقیباO او کما قال الله تعالی:یاایهاالذین امنوا اتقوالله حق تقاته ولاتموتن الاوانتم مسلمونO

محترمو مشرانو،علماؤ،قومندانانو او مجاهدینو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زما لپاره د زیاتی خوښۍ ځای دی چه نن دڅوکۍ ولسوالۍ دمجاهدینو ورونو په اجتماع کی ګډون کوم او خپله هغه آرزو پوره کوم چه ددوی دملاقات لپاره راسره ملګری وه.له هر څه وړاندی ستاسی دهغه تود هرکلی او اسلامی احساساتو شکریه کوم چه نن مو زمونږ د راتګ په وخت څرګندکړل.

زمامحترمو!د وطنولۍ او سیمه ایزو مناسباتو نه پورته، هغه ستره وجهه چه مونږاو تاسی ئی د وحدت او وروړګلوۍ په مستحکمه رسۍ تړلی یو، داسلام مقدس دین او دالله تعالی درضالپاره د قربانۍ او جهاد مشترك احساسات دی. زمونږ سره دقرآن اوحدیث پیغام دی او مسلمانان دقرآن او حدیث خواته دعوت کوو، په قرآن پاك چه دالله کتاب دی او سنت چه درسول الله صلی الله علیه وسلم قول،عمل او سلوك دی، خلك پوهوو.دقرآن دعملی کولو لاری ته سنت وایی،سنت دقرآن عظیم الشان داحکامو د تمثیل وسیله ده، مونږ مسلمانان د قرآن او سنت خوا ته دعوت کوو، زمونږ هدف دادی چه ټول مسلمانان په قرآن او سنت ځان پوهه کړی او قرآن او سنت پخپل ژوند کی پیاده کړی، د دی دعوت په لحاظ زمونږد تنظیم نوم جماعة الدعوة الی القرآن والسنة دی.یعنی دا یو جماعت دی چه مسلمانان دقرآن او سنت لوری ته دعوت کوی. هغه خلك چه یا ناپوهه دی او یا ئی په ذهنیت او نفس کی دقرآن او سنت اخلاص نشته،مسلمانان په شك او اشتباه کی غورزوی او وایی:چه دا وهابیان دی. حال دا چه نه خو مونږ وهابیان یو او نه د وهابیت په نوم کوم اسلامی تحریك پیژنو.اشاعة التوحید والسنة یا

جماعت اسلامی. دا اسلامی جماعتونه او ډلی دی چه داسلام فرایضوته دعوت ورکوی،ځوك اسلامی دعوت له یو پلیټ فارم څخه وړاندی کوی او ځوك ئی له بل څخه او مخالفین ورته ګډوډ نومونه ورکوی. هغو خلکو ته چه مونږ پنجپیریان وایو،هغوی پنجپیریان ندی،مګرد مولانا محمد طاهر (رحمه الله)نه ئی زدکړه کړی ده او مخالفینو دپنجپیرانو په نوم مسمی کړی دی،همدارنګه ځینو خلکوته مودودیان وایی، هغوی د مودودی صاحب په مذهب ندی، خو مودودی صاحب چه د اسلام د دعوت لپاره کوم تحریك جوړکړی،مخالفین د دغه تحریك چلوونکو ته مودودیان وایی.

نو هغه ځوك چه په مسئله باندی پوهه ندی اوذهناً ناقص دی او یا د اسلامی دعوت سره اخلاص نلری، هغوی مونږ په رنګ رنګ تهمتونو متهم کوی اوغواړی چه عام مسلمانان له اسلامی دعوت څخه بی برخی پاتی شی. جماعة الدعوة الی القرآن والسنة یو جماعة دی، چه د قرآن او سنت لورته دعوت ورکوی، ټول مسلمانان مکلف دی چه دقرآن او سنت احکام ومنی او په خپل ژوند باندی ئی تطبیق کړی. هغه ځوك چه په قرآن او سنت باندی عمل ونه کړی او د خپل ژوند په ټولو ساحو باندی ئی تطبیق نه کړی، هیڅکله ورته مسلمان نشی ویل کیدلی په موجوده حالاتو کی چه مسلم امت دکومو ستونزو او کړاونو سره مخ دی، ددی کومه بله وجه او علت نشته، د دوی رابطه دقرآن او سنت سره ضعیفه شویده. داسلام راوړلو نه وړاندی دټولو خلکو ژوند په جاهلیت کی تیرشوی ؤخو کله چه دقرآن اوسنت په وړانګو دهغوی ژرونه منور شول او دقرآن او سنت احکام یی پخپلو اعمالو کی مکمل پیاده کړل، ددی برکت ؤ چه مونږ او تاسی ته ئی د اسلام مقدس دین را ورساؤ او نن مونږ پدی ښکلی دین مشرف یو. د اسلام دا پیغام هغوی مونږ ته را رسولی دی.

او الله تعالی ورته دومره عزت او سرلوړی ور په برخه کړه چه د دنیا قیادتونه او حکومتونه دهغوی محتاج شول.

نن په نړۍ کی تقریباً زرملیونه مسلمانان حسابیږی او دا زرملیونه مسلمانان خپل ځان دذلت او محکومیت نه ایستلی نشی، ددی وجه دا ده چه زمونږ رابطه د قرآن او سنت سره ضعیفه ده.د پیغمبر صلی الله علیه وسلم صحابه رضوان الله علیهم اجمعین زرملیونه نه وو، بلکه په ډیر محدود تعداد وو او دنړۍ ګوټ ګوټ ته یی اسلام ورساوه او د ټول انسانیت لپاره درحمت وسیله وګرځیدل، ددی بله وجه نه وه یوازی دقرآن اوسنت سره یی رابطه ټینګه او مضبوطه وه.

مونږ دقرآن او سنت دعوت خلکو ته ورکوو او قرآن او سنت ته یی بلو او مسلمانان یو، ایمان مو پری راوړی دی، دا قرآن تاسی پیژنئ، دا هغه کتاب دی چه په محمد صلی الله علیه وسلم باندی(۱٤۱۲)کاله مخکی نازل شویدی، دی قرآن ته دعوت ورکوو، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنت چه (۱٤۱۲) کاله مخکی دنیا ته راغلی دی، دی ته دعوت ورکوو.

محمد بن عبدالوهاب د نن نه څه یونیم سل دوه سوه کاله مخکی تیر شویدی، هغه خلك قرآن او سنت ته دعوت کول، د هغه وخت دمسلمانانو په عقیدو کی دجهل او ناپوهئ له امله د شرك او بدعاتو اثرات پیدا شوی وو اومحمد بن عبدالوهاب غوښتل چه مسلمانان صحیح او سوچه اسلام ته دعوت کړی،انګریزانو دهغه تحریك دځان لپاره خطر وګاڼه، پدی وجه ئی په شیخ محمد بن عبدالوهاب باندی ډول ډول تورونه ولګول.اسلامی علماء باید په اسلامی ټولنه کی دعزت او

احترام ور وی، که علماء سپك شول نو په خلكو كی بیا اسلام نه پاتی كیږی. محمدبن عبدالوهاب ددی امت یوعالم دین دی، د هغه حرمت همداسی د مسلمانانو په نفسونو كی ضروری دی لكه څرنگه چه دنورو علماؤ حرمت او عزت د مسلمانانو په نفسونو كی دمسلمانئ یو فرض دی.

دمحمد صلی الله علیه وسلم نه تر دی حینه پوری د ټولو مسلمانانو كاروان او قافله یوه ده او ټول مسلمانان د یوی لاری ملگری دی. خلك په مونږ باندی تهمت لگوی او وایی چه سلفیان مذهب نه منی! مگر دا خطا خبره ده، دا هم د هغو خلكو تهمت دی او د مسلمانانو په اذهانو كی شك پیدا كول دی او كوشش كوی چه دمسلمانانو رابطه د قرآن او حدیث سره څنگه ضعیفه كړی.

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه، امام شافعی رحمة الله علیه، امام مالك رحمة الله علیه او امام احمد رحمة الله علیه څلور واړه دمسلمانانو مشهور امامان او علماء دی.ددی علماؤ نه مخكی او وروسته ډیر علماء تیر شویدی. ددی امت ټول علماء زمونږ امامان دی.

د پیغمبرصلی الله علیه وسلم صحابه رضوان الله علیهم اجمعین زمونږ امامان دی.تابعین زمونږ امامان دی، تبع تابعین زمونږ امامان دی، دا ټول امامان مونږ منو او د دوی حرمت او عزت زمونږ د مسلمانئ شعار او نخښه ده او څوك چه ددی امامانو سپكاوی او بی حرمتی وكړی، دا د دوی د فسق او بی دینئ نخښه ده.

مونږ څلور واړه امامان، صحابه كرام تابعین او تبع تابعین ټول منو. مونږ به د هغوی د لارښوونو په چوكاټ كی د قرآن اوسنت تفسیر كوو.هغه خلك چه یا نه پوهیږی او یا د قرآن اوسنت سره اخلاص نلری، هغوی مونږ پدی متهموی چه دوی مذهب نه منی.دا اتهام او تور چه څوك لگوی دا سړی د قرآن او سنت په نسبت په خپل نفس كی غل دی. مونږ د محمدصلی الله علیه وسلم سنت او طریقه خپله طریقه اوسنت گڼو او پدی ایمان لرلوته مسلمانی وایو او ددی لاری قافله چه دمحمد صلی الله علیه وسلم له وخته تردی حینه پوری را روانه ده، هغه زمونږ مسلمانان ورونه دی، علماء یی مونږ ته محترم دی او امامان یی زمونږ امامان دی.

دوهمه مسئله دا ده چه دا د الله تعالی احسان دی چه مونږ یی مسلمانان گرځولی یو.كه مونږ ریښتینی مسلمانان یو نومونږ ته به د ټولو نعمتونو نه لوی نعمت اسلام ښكاری، دقوم نه به راته اسلام بهتر وی، دتجارت نه به راته اسلام بهتر وی، د آبادئ او پارټمانونو نه به راته اسلام بهتر وی، د دنیا دمال او حتی له خپل نفس او ژوند نه به راته اسلام بهتر نعمت ښكاری، كه اسلام راته لدی څخه بهتر ښكاره نه شو، بیا هم مونږ مسلمانان نه شو كیدلای. په دی وجه هغه څوك چه په اسلام كی مخلص نه وی، د دوی په مقابل كی الله تعالی قتال او جهاد په مونږ فرض كړی دی. څوك چه داسلام لپاره خپل نفس او ژوند قربانی كوی، هغه ته الله تعالی صادق او مخلص مسلمان وایی.او څوك چه د كفارو په مقابل كی له قتال نه فرار كوی او خپل ژوند بچ كوی، هغه ته الله تعالی منافق وایی.نو معلومه دا شوه چه اسلام دژوند او نفس نه هم لوی نعمت دی.ددی اسلام پخاطر الله تعالی مسلمانان قربانئ ته رابولی، هرډول قربانئ ته، د سرقربانئ ته،دمال قربانی ته.دا چه مونږه الله تعالی مسلمانان گرځولی یو.د الله تعالی احسان او فضل دی، چه الله تعالی مونږه د دی لاری لپاره انتخاب كړی یو.

او د دی عظیم نعمت یعنی اسلام چه زمونږ او ستاسی په برخه کړی یی دی، باید د الله تعالی شکریه اداء کړو.

لږترلږه باید داسلام اجمالی معنیٰ خو باید وپیژنۍ چه داسلام معنیٰ څه ده؟ اسلام هغه دین دی، چه الله تعالی د انسانانو دژوند لپاره رالیږلی دی، دژوند یو اړخ او یوه څانګه داسی نشته چه هلته داسلام هدایت نشته. دژوند په هر اړخ کی ځان دالله تعالی حکم تسلیمولو ته اسلام ویل کیږی. که سړی لمونځ کوی، روژه نیسی، زکوة ورکوی. خو دحلالو او حرامو فرق ونه کړی دا مسلمان نه دی. اسلام د ژوند لپاره هغه لاره ده چه په هغه کی دالله تعالی هدایت دی، که یوانسان ددی لاری نه داسی ووځت چه هلته یی ځان آزاد وشمیره، دا انسان مسلمان نشی پاتی کیدلی. تاسی ددی سیمی خلك د تبلیغ سره زیاته علاقه ساتی؛ تاسی به د تبلیغ دحضراتو نه اوریدلی وی چه د (لااله الا الله) معنیٰ ده «نشته دی د بندګیٔ یو اړخ، مګر په غیرله الله».

د بندګیٔ معنیٰ څه ده؟ هغه څوك چه زه دهغه په حکمونو کی ځان را بندوم، هغه وایی «وکوه» زه یی کوم، هغه وایی «مه کوه» زه یی نه کوم هغه یوازی یو الله تعالی دی، لدی نه پرته بل څوك دبندګیٔ وړ نه دی، چه انسان خپل ژوند دهغه په حکمونو او دهغه په امرونو کی را محدود کړی. خو په هغه طریقه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ټاکلی ده، که ددی کلمی په حدودو کی څوك ځان بند ونه شمیری، ولوکه هغه لمونځ کوی، روژه نیسی،زکاة ورکوی او حج کوی هغه ته مسلمان نشی ویل کیدی.

دا د الله تعالی احسان ؤ، چه مونږ یی مسلمانان ګرځولی یو، د اسلام لپاره یی انتخاب کړو او بیا یی په اسلام کی دجهاد لپاره غوره کړو. دولس کاله وشول چه په افغانستان کی عملی جهاد او قتال روان دی، داجهاد اول دسرو روسانو سره ؤ، د هغوی د ایجنټانو او بچیانو سره ؤ، که هغه خلقی ؤ، که پرچمی یا افغان ملتی ؤ که ملتی.دا ټول د باطلی او الحادی نظریی لرونکی دی.د افغانستان مؤمن ولس ته الله تعالی دا توفیق ورکړ چه د دوی په مقابل کی یی په عملی جهاد لاس پوری کړ.

نو الله تعالی حکم کوی چه دفتنی او فساد د له منځه تللو پوری جهاد وکړی: وقاتلو هم حتی لا تکون فتنة ویکون الدین کله لله

«یعنی، تاسی قتال او جهاد تر هغی پوری و کړی چه فتنه پاتی نشی» فتنه دی ته وایی چه شرك پاتی نشی، شر پاتی نشی، فساد پاتی نشی، الحاد او لادینیت پاتی نشی او ګډوډی او بی نظمی پاتی نشی. او ټول خلك دځمکی پر مخ د الله تعالی دحکم لاندی خپل ژوند تیر کړی او ټول خلك دانسانانو دبندګیٔ نه خلاص شی.

ددی دنیا پر مخ که هرڅومره طاغوتی سرکشان پیدا شی او وغواړی چه دنړیٔ خلك خپل بندګان کړی، خو الله تعالی مونږ ته حکم کوی چه د الله مخلوق دبندګانو له بندګیٔ څخه را وباسیٔ او دالله تعالی بندګیٔ ته یی راوبلیٔ. ترڅو دځمکی په سر عبادت یوازی الله تعالی ته و شی.

دا چه دا سیمه د جهاد پواسطه د کفر له قدم څخه پاکه او آزاده شوه، ددی معنیٰ دا نه ده چه اوس به دا خلك پدی سیمه کی قبایلی ژوند اختیاروی، دلته به خلك په یو امیر راجمع نه وی، دلته به اسلامی محکمه نه وی، امنیت به تأمین نه وی، هرڅوك به دقدرت په زور خپله فیصله کوی، دغل او قاتل مواخذه او ګرفت به نه کیږی، زنا کار دی نه نیول کیږی او د خلکو آبرو او عزت دی په نظر

کی نه نیول کیږی.

ستاسی د قربانئ ورکولو او جهاد کولو غایه او هدف به دا وی چه خپل اعمال به دالله تعالی دحکم لاندی راولئ، د سیمی د خلکو ژوند به قبایلی نه بلکه اسلامی ژوند وی، خلك به په یو شرعی امیر راجمع وی، اسلامی محکمه به وی، امنیت به تأمین وی، دقدرت او زور د فیصلی په ځای به شرعی فیصلی کیږی، د غل، قاتل او زناکار مواخذه به کیږی او دخلکو آبرو او عزت ته به دقدر په سترگو کتل کیږی.

که د جهاد او قتال دا غایه په عمل کی را نه وستل شی، نو دا جنگ به جهاد نه وی بلکه دا به هم هغه فساد وی چه هیڅکله الله تعالی ته قبول نه دی.

په کومو هیوادو کی چه اسلامی قانون حاکم نه دی، تاسی وینئ چه د رعیت ژوند یی دډول ډول بدبختیو سره مخ دی او دغه هیواد دغلو، ډاکوانو، قاتلانو او ډول ډول مجرمانو مرکز گرځیدلی دی.

مونږ دا لس دولس کاله جهاد ددی لپاره کړی چه دلته دالله تعالی حکم قایم شی، کله چه له کفر څخه کومه ځمکه فتحه کیږی، ځای یی باید یو منظم اسلامی نظام ونیسی.

ډیری داسی سیمی د کفر له قدم څخه مجاهدینو فتحه کړیدی، مگر هلته تر اوسه د مجاهدینو انسجام موجود نه دی، او په یو امیر راجمع نه دی. دا ځکه تر اوسه مونږ په متعددو سیاسی تنظیمونو تقسیم یو، د دی سیاسی ډلو سبب دی چه مونږ د الله تعالی د دی رحمت نه محروم یو، چه په یو اسلامی امیر راجمع شو او بیعت ورسره وکړو او ځان د جاهلیت نه را وباسو.

پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایی:

«که څوك مړ شو او د هغه بیعت د یو اسلامی امیر سره نه وی، د هغه مرگ دجاهلیت مرگ دی». که څوك د یو اسلامی امیر له بیعت څخه ځان وباسی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وایی چه هغه له خپلی غاړی څخه داسلام رسۍ وایستله. دا د ټولو علماؤ او کتابونو متفقه فیصله ده چه امام او امیر به ددی لپاره مقرر وی، چه الهی احکام دځمکی په سر تطبیق شی او دا اجازت مسلمان ته نشته چه بی امامه او بی امیره خپل ژوند تیر کړی، که هغه لږ وخت وی او که ډیر وی.

کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم رحلت وکړ،صحابه کرامو دهغه جنازه او تدفین وروسته کړه او د إمارت او امامت مسئله یی مخکی کړه او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یی خپل امام وټاکه.او کله چه ابوبکرصدیق رضی الله عنه وفات کیده، حضرت عمر رضی الله عنه د مسلمانانو امیر وټاکل شو،ددی لپاره چه دمسلمانانو وخت په جاهلیت کی تیر نشی.دغه شان د صحابه کرامو ژوند همیشه د یو امیر تر اطاعت لاندی تیریده.

د ټولو علماؤ او کتابونو دا متفقه فیصله ده، چه په مسلمانانو باندی د امیر ټاکل فرض دی.که بی د امیر له اطاعته څوك ژوند تیروی،د هغوی ژوند د جاهلیت ژوند دی، ددی نعمت څخه مونږ د دنیا د لالچ په وجه محروم شوی یو.

دالله تعالی دربار ته سوال کوو چه دافغانستان مجاهدینو،مهاجرینو او مسلمان ولس ته دا توفیق ور په برخه کړی چه دخپل مقدس جهاد د بریالیتوب له پاره د یو متدین او مجاهد رهبر په شاوخوا راټول شی، په متحدانه ډول د کفر اوالحاد جرړی له هیواد څخه وباسی او د اسلام عادلانه نظام په هیواد کی ټینگ کړی او زمونږ د سوونو زرگونو شهیدانو ستر ارمان پوره کړی.

امین یا رب العالمین.

په سعودي عربستان کې دبنسټيز نظام،دشورا دمجلس او سيمه ايز نظام دتشکيل اعلان

په سعودي عربستان کې دبنسټيز نظام،دشورا دمجلس او سيمه ايزنظام د تشکيل په مناسبت د خادم حرمين شريفين شاه فهد بن عبدالعزيز د وينا متن چه د (دعوت) د لوستونکو لپاره يې ګټور بولو.

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على اشرف المرسلين سيدنا محمد وعلى آله وصحبه اجمعين.

قدرمنو ورونو: کله چه الله تعالى کوم ملت ته دخير اراده وکړي، نو سمې لارې ته يې هدايت کړي. په مونږ باندې دالله تعالى دومره نعمتونه دي چه شميرل کيدلى نشي چه تر ټولو ستر نعمت ئې اسلام دى يعنى هغه دين چه په هغه باندې عمل کوونکي هيڅکله هم ګمراه کيداى نشي، بلکه هماغه دهدايت په لار برابر او نيکمرغه انسان دى چه تاريخ او واقعات ددغه حقيقت ډير ښه ښکارندوى دى اوکله چه مسلمانانو شريعت په خپل ژوند باندې نافذ کړي، نو بريالیتوب او نيکمرغي يې په برخه شوي ده.

په اوسني تاريخ کې سعودي عربستان ددوه نيمو سوو کلونو په موده کې اسلام اواسلامي تعليمات خپل کړي چه وياړ يې د دوو نيکو او صالحو شخصيتونو امام محمد ابن سعود او الشيخ محمد بن عبدالوهاب رحمهم الله په برخه دى.

دسياست، حاکميت او دعوت په برخه کې ددې هيواد تګ لاره ډيره څرګنده او روښانه ده او دغه تګ لاره اسلامي عقيده او شريعت دى.

ددې هيواد دتشکيل سره سم دسيمې په خلکو باندې خوښي او نيکمرغي راغله، هغوى ته امنيت او اطمينان ورپه برخه شو او هر ډول ويره او خوف ئې له زړونو څخه ليرې شو او د ورونو په شان خواره شول او سعودي عربستان داوسني تاريخ په سياست او حکومت کې ديو غوره مثال په توګه راڅرګند شو، ځکه چه دې هيواد خپل بنسټيز اسلامي قوانين دعقيدې، فقهي،امر بالمعروف او نهى عن المنکر ددعوت په بنسټ کينبودل او دغه طريقه تر اوسه هم روانه ده او دهيواد ټول حکمرانان په اسلامي شريعت باندې پابند واوسيدل او دا هغه لوى نعمت دى چه هر چاته چه دالله تعالى اراده وشي، ورته ئې په برخه کوي. له دغې خبرې څخه ددريو حقيقتونو لورې ته اشاره څرګنديږي:لومړى حقيقت دادى چه اسلام زمونږ لپاره هغه بنسټ دى چه هيڅکله پکې تغير او تبديل نشي راتلاى. الله تعالى وفرمايل:

(مونږ دغه ذکر نازل کړى او مونږ دهغه ساتو نکي يو.)

دوهم حقیقت په دغه بنسټ باندی ثبات او استحکام دی. الله تعالی وفرمایل!« بیا ته مونږ ددین په سمه لار رهی کړی نو په همدغه لار رهی اوسه او دجاهلانو او ناپوهانو په خواهشاتوپسی مه ځه».

دریم حقیقت دادی چه ددی هیواد مسئولین او حکمرانان له اسلام سره وفاداری لری، لکه څنگه چه دشاه عبدالعزیز رحمه الله داقتدار په زمانه کی له همدی اسلامی عقیدی او شریعت سره وفاداری وه چه دهغی په بنسټ دسعودی عربستان هیواد تشکیل شو، په داسی حال کی چه زیات خنډونه موجود وو خو شاه عبدالعزیز ددغو ټولو ستونزوسره سره داسلامی شریعت تنفیذ او داسلامی ټولنی تشکیل او قیام ته ترجیح ورکړه.ددی عقیدی او شریعت په اساس اعلان شوی توحیدی عقیده خلکوته یوازی دالله تعالی دعبادت ترغیب ورکوی، تر څو خلك دعزت او شرافت ژوند تیر کړی، اسلامی شریعت دانسانی حقوقو او دهغوی دسراو مال ساتنه او حفاظت کوی. دحاکم او محکوم تر منځ روابطو ته انسجام ورکوی، دټولنی دوگړو اعمال اصلاح کوی او عامه امنیت تأمینوی. داسلام لوری ته دعوت او تبلیغ او دهغه خپریدل او اشاعت داسلامی هیواد په مهمو فرایضو کی شامل دی، په داسی حال کی چه دفساد او فحشأواو منکراتو څخه پاکه ټولنه په مستقیمه لار باندی په تللو کی له انسان سره مرسته کوی او تر ټولو مهمه خبره داده چه اسلام او ایمان دسیاسی، تولنیز او جغرافیائی اتحاد او اتفاق ضمانت کوی. اسلام په خپل منځی مشورو باندی دهغو دافادیت په نظر کی ساتلو سره زیات تاکید کوی او په هغو باندی عمل کول دمومنینو په صفاتو کی شمیری. اسلام په دی خبره هم ټینگار کوی چه حرمین شریفین باید تل دطواف، اعتکاف، رکوع او سجود لپاره پاك او نظیف وساتل شی، تر څو خلك په ښه ډول سره حج، عمره او عبادات سرته ورسوی او دسعودی عربستان دولت دالله تعالی په فضل او مرحمت سره خپل دغه مسئولیت داسلامی امت دخدمت په حیث په ښه او احسنه توگه سرته رسوی .

داسلامی شریعت په اساس ددین دشعایرو، هیواداو ولس دفاع واجبه ده او داهغه اساسي او بنسټیز اصول دی چه دسعودی عربستان حکومت ورباندی ولاړ دی.

په ۱۳۷۳هجری قمری کال شاه عبدالعزیز رحمه الله دکابینی دتشکیل حکم صادر کړ چه تر اوسه دغه حکم نافذ دی لکه څنگه چه سعودی عربستان هیڅکله هم دقانونی خلاسره نه دی مخامخ شوی ځکه چه دقانونی خلاموجودیت په هیواد کی دهغو قوانینو او اصولو دنه موجودیت معنیٰ لری چه دهغو په اساس دهیواد قانون جوړشي او دغه کار د سعودی عربستان په ټول تاریخ کی نه لیدل کیږی، ځکه چه عربستان دتل لپاره دیو قانون او اصولو سره سم مخ په وړاندی روان دی او دهیواد ټول حکام، قضات، علماء او ټول دولتی مسئولین په دغو اصولو باندی کلك ولاړدی.نن چه مونږ دبنسټیز نظام، مجلس شوریٰ او سیمه ایز نظام اعلان کوو،داکوم نوی کارندی بلکه دغه دری واړه نظامونه دسعودی عربستان له شرایطو او گټو سره کا ملاً مطابقت لری او دری واړه نظامونه دشریعت تابع دی.

گرانو ورونو! بنسټیز نظام په شریعت ولاړدی، ترڅو دهیواد اهداف او مقاصد او مسئولیتونه او همدغه شان دحاکم او محکوم ترمنځ روابط څر گند شی، پدی هیواد کی چه دخلکو او حکامو تر منځ کوم روابط موجود دی، بنسټ ئی محبت، نرمی، عدل، متقابل احترام، وفاداری او تعاون دی ، لکه څنگه چه دحاکم او محکوم ترمنځ هیڅ فرق نشته، ټول دالهی شریعت په وړاندی یوشان او برابر دی ، ټول ددی هیواد سره په مینه او وفادارئ او دفاع کی برابر دی، لکه څنگه چه

دهغوی خپل منځی روابط دپيل نه تر پای پوری دکتاب الله او سنت نبوی دشريعت تابع دی، دشوریٰ دمجلس نظام هم د اسلامی شريعت تابع دی، لکه څنګه چه الله تعالی فرمايلی دی:

(او هغه کسان چه دخپل رب حکم منی، لمونځ کوی او په ټولو چارو کی ديو بل سره مشوره کوی او له هغه مال څخه چه مونږ ورته ورکړی (دالله تعالی په لارکی) خرڅ کوی.

بيا يی فرمايلی: (دالله تعالی په فضل ته ددی خلکو له پاره دنرم خوی لرونکی يی، که ته بدخويه او سخت زړی وی نو داخلک به ستا څخه په تيښته وی، نو هغوی ته بخښنه وکړه او ورته مغفرت وغواړه او په خپلو کارونو کی ترې مشوره واخله).

قدرمنو ورونو! دغه ټول نظامونه دزيات تحقيق او مطالعی نه وروسته نافذ شوی دی او مونږ پوره اميد لرو چه دغه قوانين به دسعودی عربستان دخلکو لپاره دنيکئ، خير او برکت سبب شی، مونږ به دخپلو خلکو هيلو ته داحترام په ساتلو سره دهغوی دسوکالئ او نيکمرغئ لپاره يوه دقيقه هم غفلت ونکړو.

په سعودی عربستان کی دمسلمانانو مقدس مقامات موجود دی، هلته حج او عمره اداکوی، دزيارت لپاره ورځی او الله تعالی دی هيوادته دحرمين شريفين عزت او شرف وربخښلی دی، مونږ دحرمين شريفين دساحی د پراختيا او دمقدسو مقاماتو د توسعی لپاره هر ډول ممکن کوښښونه کړی دی چه پدغه وجه مونږ دالله تعالی شکر اداء کوو او الله تعالی ته دعا کوو چه مونږ ته ددغو مقدسو مقاماتو د زيات خدمت توفيق راپه برخه کړی، سعودی عربستان په هره مرحله کی اسلامی تعليمات خپل کړی او حکامو په هغو باندی عمل کړی دی، دحکومت کارکوونکی او ټول ولس هم په خپل ژوند او تصرفاتو کی هغه عملی کړی دی، لکه څنګه چه همدا يوازی اسلام دژوند منهج دی او هغه څه چه په کتاب او سنت کی دی، په هغوی کی إفراط او تفريق نشی کيدای، په سعودی عربستان کی زمونږ قانون کتاب الله او سنت نبوی صلی الله عليه وسلم دی، داختلافی مسائلو دموجوديت په صورت کی مونږ کتاب الله اوسنت نبوی ته رجوع کوو او همدغه زمونږ دهيواد دنظام بنسټ دی.

په سعودی عربستان کی حکام او علماء دتل لپاره له يو بل سره مرسته او تعاون کوي او ولس هم داسلامی شريعت سره سم خپلو حکامو ته وفادار دی او پدی ډول دا ټولنه دامن او سکون او اطمينان نه ډکه ده.

سعودی عربستان په ماضی او اوسنی عصر کی دشريعت پابند دی او په داخلی او خارجی چارو يی شريعت نافذ کړی دی او په راتلونکی کی به هم په دغه لار روان وی، مونږ الله تعالی ته دعا کوو چه زمونږ هيواد او ولس، عرب او اسلامی امت ته خير، سلامتی، ترقی او نيکمرغی ور په برخه کړی، د الله تعالی د مهربانی او لطف او کرم په وجه نعمتونه نازليږی.

اسلام او اهل حدیث

اسلام هغه یواځینی دین دی چه الله رب السموات والارض د خپلو بندگانو لپاره خوښ کړیدی:«ان الدین عندالله الاسلام»(آل عمرآن۱۹) یعنی بیله شکه دالله تعالی په نزد اصل دین (همدا) اسلام دی.

اسلام دانسانی ژوند لپاره یو مکمل قانون دی چه د انسانی ژوند هرگوټ د الله تعالی په نور روښانه کوی.دالله تعالی غوره کړی شوی نبی خاتم الانبیاسرورکاینات حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ټول ربانی هدایات او لارښوونی د کتاب او سنت په شکل کی نړی ته ورسولی چه هر څوك کولی شی دهدایت له دغو سرچینو څخه دخپلی فلاح او نیکمرغی لپاره استفاده وکړی.

په کتاب او سنت باندی په ښه ډول عمل کول پخپله اسلام دی او همدا سمه او مستقیمه لارده، که انسان دغه لار پریږدی نو دبلی هری لاری اختیارول به ورته بیله ناکامی، تباهی اونا امیدی نه غیر نور څه گټه ونه رسوی.

«ومن یبتغ غیر الاسلام دینا فلن یقبل منه»

ترجمه:او څوك چه داسلام نه غیر دبل کوم دین په لټه کی شی نو دغه بل دین به ئی هیڅکله هم قبول نشی (قرآن عظیم الشان).

داسلام دعوت اوتعلیم دادی چه انسان خپل ټول ژوند دخپل حقیقی خالق په اطاعت او دهغه پاك ذات د برحق قانون په پیروی کی تیر کړی، د الهی هدایت (قرآن مبارك)او د الله تعالی دبرحق نبیْ حضرت محمدصلی الله علیه وسلم تعلیمات او لارښوونی دخپل ژوند لپاره مشال وټاکی،هرډول شرك پریږدی او د الله تعالی له ذات نه پرته دبل چابندگی ونه کړی، بل چاته سرټیټ نه کړی او دالله وحده لاشریك نه پرته هیڅوك خپل حاجت روا او مشکل کشاو نه گڼی اوخپل ټول اطاعتونه،فعالیتونه او عبادات د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم تابع کړی.

مسلمانیکه داند رمز دین را
نساید پیش غیر الله جبین را
(اقبال)

تاريخ گواه دی چه دغو اسلامی تعليماتو په ډير ه لږه موده کی دنړی دحرکت څرخ په بله خوا تاو کړ، کوچنيو ذراتو ته ئی ځلا ورکړه او هغه ئی د علم او حکمت د آسمان د ځليدونکو ستورو په حيث راڅرگندی کړی، کافران، مشرکين، ملحدين او زنديقان ئی له هدايت نه وروسته دستر رب الله تعالی حاميان او وفاداران وگرځول،ډاکوان او مفسدين ئی داسلام په لاره له تگ نه وروسته دسلطنت او حکومت مدبران کړل او دومره ئی متمدن او مهذب کړل چه هغوی دتمدن، ټولنی، سياست، اخلاقو او پوهنی په برخو کی د ټولی نړئ داستادانو په حيث وپيژندل شول او دنبوت په غيږ کی تربيه شوی ځوانان دټولی نړئ لارښوونکی ثابت شول.

اسلام دخپلو پيروانو څخه دامطالبه کوی هغه دين چه دوی ئی دپيروی دعوی کوی بايد دخپل ټول ژوندپه ساحه کی تطبيق کړی او د خپل ژوند ټولی چاری د دين د اصولو سره سم مخ په وړاندی بوځی.

داسی ونه شی چه اسلام دژوند په کومه برخه کی دغير ضروری قانون په حيث تطبيق نه کړی، بلکه ضروری داده چه اسلام په خپل ټول ژوند باندی نافذ کړی.د انسانی پرگنی د فلاح او نيکمرغی يواځينی عامل او متضمن همدا اسلام دی چه بايد په انسانی اعمالو،افکارو، عقايدو او نظرياتو، تمايلاتو او اخلاقو او اطوارو، تهذيب او تمدن، مذهب او تولينزو چارو، تجارت او معاملاتو،سياسی او بين المللی چارو کی اسلامی تعليمات د واجب التنفيذ قانو ن په حيث ومنل شی او د انسانی ژوند نظام دالله تعالی دبندگی اواطاعت په اصولو ودريږی او ددغه هدف لپاره دسرور عالم خاتم النبيين صلی الله عليه وسلم د لارښوونو تابعداری وشی، د آنحضرت صلی الله عليه وسلم له اسوه حسنه څخه درس واخستل شی او دژوند په ټولو چاروکی يوازی قرآن او حديث دسند او دليل په حيث ومنل شی.

اهل حديث د حقيقی اسلام بلونکی دی:

اسلامی تاريخ د دی حقيقت گواه دی چه دنبوت به مدرسه کی تربيه شويو لومړينو مسلمانانو قرآن او حديث دخپل ژوند دقانون په حيث ومانه، خپل ټول مناسبات ئی دبشريت دلارښود حضرت محمدصلی الله عليه وسلم سره ټينگ کړل چه په آحاديث رسول صلی الله عليه وسلم باندی ولاړو او عمل کوونکو ته اهل حديث ويل کيږی. اهل حديث دحقيقی اسلام داعيان دی او ددوی مذهب هماغه دی چه دبشريت معلم، د الله تعالی برحق پيغمبر حضرت محمدصلی الله عليه وسلم صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين ته ورزده کړی دی.د اهل حديث عقيده دا ده هغه اصول چه لومړنی مسلمانان ورباندی ولاړ وو د اسلام حقيقی نمونه ده اوپه دغو اصولو کی هيڅ ډول کمی زياتی،کوږوالی او خرابی بايد ونه لټول شی. اهل حديث خپل نسبت له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه غير له بل چا سره نه ټاکی او نه له بل چا سره ارتباط دايمان جز گڼی. داهل حديث اصول د نبوت دلمرد راختلو له وخت څخه تردی

دمه همدا دی چه:

اصل دین آمد کلام الله معظم داشتن

پس حدیث مصطفی برجان مسلم داشتن.

اهل حدیث ترټولو پخوانی مسلك دی:

داهل حدیث مسلك په دوو غیر متزلزلو ستنو ولاړدی! قرآن مجید.او احادیث نبو ی او ښکاره ده چه دغه دواړه کوم نوی اوتازه اصول نه دی، بلکه داسلام اساس او بنسټ په قرآن مجید اواحادیث نبوی صلی الله علیه وسلم ولاړدی.دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په پاك عصر کی ټول مسلمانان یوازی د قرآن او حدیث منونکی وو او په دغه مقدسه زمانه کی ټولو صحابه کرامورضی الله عنهم یوازی یو مذهب ا و مسلك درلود چه نوم ئی ؤ مسلك اهل حدیث. هغوی یوازی د قرآن او حدیث قایل وو او یوازی په هغو باندی ئیٔ عمل کاوه. نن هم اهل حدیث په دغه لار روان او په هغو پاکو اصولو ولاړدی چه د قرآن او حدیث لورته دعوت ورکوی او دکامیابی او کامرانی هغه منزل ته د رسیدو لپاره هلی ځلی کوی چه الله تعالی اورسول الله صلی الله علیه وسلم په نښه کړی دی .

داسلام په لومړنی عصر کی:

د اسلام په لومړنی عصر کی ټولو مسلمانانو همدا یو مذهب درلود او هغوی ټول داهل حدیث دمسلك سره سم د قرآن اوحدیث په څرگندو تعلیماتو باندی ټینگ ولاړوو.دهغوی قانون او د ژوند لاربښود کتاب او سنت ؤ چه ددین او دنیاپه ټولو چارو کی ئی ورڅخه هدایت اخست .

ددغه مقدس عصر نه وروسته ډیر ژر هغه مرحله راورسیده چه له کتاب او سنت څخه لاسته راغلی تعلیمات او هدایات گډود شول، بیلا بیلی ډلی او فرقی جوړی شوی،خو دفتنو او فسادونو نه په دغه دك عصرکی هغه کسان چه قرآن او حدیث ئی په خپلو سینو پوری ټینگ ونیو همدا اهل حدیث وو.

دعلی گړ د پوهنتون مؤسس سرسیداحمدخان په خپله یوه مقاله کی په دی باب لیکی چه :

«په دوهمه هجری پیړی کی کله چه داسلام په باب علماؤ خپل نظریات ولیکل،نو دڅلورو ډلو موجودیت تری څرگندیده چه حنفی، شافعی،مالکی او حنبلی نومیدی او لږه موده وروسته مسلمانانو ته دا صلاحیت ورکړی شو چه کولی شی په دغو ډلوکی دکومی ډلی مسئاله خوښه کړی او دهغی پیروی وکړی.خو کله چه بنی امیه او بنی عباس د بادشاهی په تخت کښیناستل، نو مسلمانانو ته ئی حکم صادر کړچه باید له دغو څلورو ډلو څخه دهری یوی ډلی چه ددوی خوښه وی ټول مسایل ئی باید ومنی .وروسته چه به چا دخپلی مذهبی ډلی مخالفت کاوه،سزابه ورکول کیده. ددغه جبری حکم په وجه له خلکو څخه د رایہ آزادی سلب شوه او دمذهبی لاس وهنو بازار تود شو، خو په دغه وخت کی هم ډیر داسی خلك موجود ووچه په اصل مذهب باندی ټینگ ودریدل چه په همدغه عصر کی ورته اهل حدیث وویل شو.دغه کسان دحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د اقوالو او هدایاتو معتقد وو او د پورتنیو څلورو مذهبی ډلو دمسایلو پابندئی نه منله.

(نوربیا)

سري لنکا

مسلمانانو ته به بيا څوك محمد بن قاسم شي؟

دسريلانکا له هيواد سره هرڅوك ډير ښه آشنا دی، هغه سريلانکا چه په پخوا زمانو کی ورته سرانديپ ويل کيدل، په سند باندی د محمد بن قاسم دحملی يوه لويه وجه دا وه چه د سرانديب د مسلمانانو بيړئ دسند په ساحل کی دراجه داهر له خوا لوټ شوه او محمد بن قاسم دمسلمانانو ددغی قافلی ديوی نجلئ په چيغو سورو دهغوی مرستی ته راورسيد.

دا هم مشهوره واقعه ده چه د سريلانکا يو سوادگر دحضرت محمد صلی الله عليه وسلم دبعثت او مدينی ته له هجرت نه خبر شو نو د پيغمبرصلی الله عليه وسلم په حضور باندی دمشرف کيدوپه آرزو دعربستان په لور روان شو،خو په لار کی ورباندی ډيری سختئ راغللی او دسفر کړاونه ور باندی تيرشول، پداسی وخت کی مدينی ته ورسيد چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ددی نړئ نه رحلت کړی ؤ او حضرت عمررضی الله عنه دخلافت په گدئ ناست ؤ،هغه دحضرت عمر رضی الله عنه څخه داسلام په باره کی معلومات تر لاسه کړل اوبيرته دخپل وطن په لور رهی شو،خو په لارکی وفات شو، هغه ملگری چه دده سره پدی سفر کی ورسره ؤ، سری لنکا ته ورسيد او هلته يی داسلام مقدس دين خپورکړ، نن سبا په سری لنکا کی لږ تر لږه دولس لکه مسلمانان ژوند کوی او د بدايانو او هندوانو او عيسويانو نه وروسته د دغه هيواد دريم لوی اقليت تشکيلوی.

د دغه هيواد مسلمانانو په تيرو څو کلونو کی دحکومت او هندوانو د زور زياتی او ظلم سره مخامخ دی، د افسوس خبره دا ده چه په هغوی باندی دومره ظلم کيږی چه حکومت او هندوان غواړی دمسلمانانو نسل له دغه هيواد څخه ورك کړی، خو اسلامی نړئ د دغو مظالمو په خلاف د احتجاج چغه ويستل خو لاڅه چه دهغوی دحال په باب خبر هم ندي.

په تيره مياشت کی دسری لنکا يو سلفی دينی مشرابو يحيی محمد فاروق لاهور ته راورسيد او هلته يی ددعوة او ارشاد په مرکز کی په سری-لنکا کی دمسلمانانو داوسنی حال په باب ورځپاڼو ليکونکو سره خبری وکړی چه مونږ يی لنديز او پښتو ترجمه خپلو افغانی مجاهدينو او مهاجرينو ورونو ته وړاندی کوو.

پوښتنه: تاسو په څه ډول پاکستان ته راغلی؟

ځواب:له افغانی مجاهدينو اود هغوی له مشرانو سره له ډيری مودی روابط لرم او دهغوی سره د ملاقات او ورڅخه درهنمائي د اخستلو لپاره څو ځل پاکستان ته راغلی يم.

پوښتنه: په سری لنکاکی عمومی حالات څنگه دی او مسلمانان په څه ډول ژوند کوی؟

ځواب: نن سبا په سری لنکا کی پنځه لویی پارټئ مشهوری دی، یونایټیډ نیشنل پارټی چه حکومت یی په لاس کی دی، سری لنکا فریډم پارټی، هندو سیاسی پارټی، سماسماجی پارټی او کمونیسټ پارټی. تر ډیره وخته مسلمانانو کوم سیاسی گوند نه درلود، خو اوس دسری لنکا مسلم کانگرس گوند په نوم یو اسلامی گوند شته چه د پنځو کالو را پدی خوا مبارزه کوی. اهلحدیث په هغه هیواد کی دجماعت التوحید په نوم فعالیت کوی چه دغړو شمیره یی ډیره کمه ده، وجه یی دا ده چه دسری لنکا مسلمانان اکثر د صوفیانه طبعیت لرونکی دی، دغه‌دله‌که څه هم بریلویان ندی خو هغوی ته په ورته افعالو اواعمالو کی دهغوی څخه هم څو قدمه وړاندی دی. په ختیځه سری لنکا کی مولوی عبدالرؤف دی چه وائی «رسول الله په خپله الله دی، له مذهبی محافلو څخه دومره دارېږی چه دحب الاولیأ په نوم فعالیت کوی، په اساسی ډول هر گوند ته دفعالیت اجازه حاصله ده، تر دی چه دقادیانیانو عبادت ځایونه هم موجود او بلکه رجسټرهم دی، هغوی ځانله جلا مدرسی لری چه تعلیمی سلسله یی پکی روانه ده، قادیانیان ځانله مطبع هم لری چه فرهنگی مواد چاپوی او په خلکو یی وړیا تقسیموی، څرنگه چه کشمیری مسلمانان دهندی بدمعاشانو په دام کی راگیر دی، په دغه ډول دسری لنکا مسلمانان هم په بد حال ژوند کوی. په ۱۹۸۰ میلادي کال چه د دغه هیواد هندوان دحکومت په خلاف راپورته شول، نومسلمانانو دهندوانو تر لاس لاندی له کار کولو څخه انکار وکړ. په نتیجه کی یی مسلمانان دهیواد له ختیځ او شمال څخه وویستل او د ۱۹۸۹ میلادي کال په اکتوبر کی پنځه اویا زره تنه مسلمانان دهندوانو له خوا له شمالی سری لنکا څخه وویستل او دوچی لار یی ورباندی وتړله، مسلمانان دکشتیو په واسطه په داسی حال کی له سیمی څخه ووتل چه زیات شمیر په اوبو کی ډوب شوی وو.

کله چه مسلمانان په لمانځه ودریږی نو هندوان ورباندی دگولیو باران وروی. یو ځل یو سل او شپاړس تنه مسلمانان د سجدی په حالت کی دهندوانو د ډزو له امله شهیدان شول.

دختیځی سری لنکا په یو کلی کی ځلویښت زره مسلمانان دهندوانو څخه دخطر داحساس په وجه دپوځیانو تر امنیت لاندی ژوند کوی. کله چه زه دغه کلی ته لاړم نو ومی ژړل چه دغه کلی ته دپوځیانو له مرستی نه غیر دمسلمانانو رسیدل ناممکن کار دی. که څه هم له کولمبو څخه دری ساعته لارده، خو په رسیدلو کی ورته شل ساعته پکار دی. دپوځیانو دموجودیت سره سره هندوان په مسلمانانو حملی کوی. هند د سریلانکا دهندوانو سره زیاته مرسته کوی او هلته پوځی مداخلت کوی اسرائیل هم ورسره مرسته کوی، د سریلانکا هندوان ځوانان په تل ابیب کی تربیه کیږی، هغه وسله چه اسرائیل یی سریلانکا ته ورکوی هندوانو یی ټریننگ لا پخوا زده کړی وی. په شمالی سریلانکا کی دهندوانو جلا بحری جهاز او بحری قوه موجود ده.

داسلامی هیوادو دحکومتونو او ولسونو څخه زمونږ گیله دا ده چه دسریلانکا دمسلمانانو په حال آواز نه اوچتوی، دوی بایدد اسلامی حکومتونو په حیث په سریلانکائی مسلمانانو باندی د ظلم او بربریت پوښتنه وکړی او خپل اسلامی مسؤلیت سر ته ورسوی.

اسلامي عقایداو د امت د یووالي اساسي اصول د قرآن او سنت په رڼاکې

دریمه او وروستۍ برخه

درحیم گل (توحید یار) ژباړه

د پوهی،استنباط او اجتهاد مسایل:

۲۸-له هغو مسایلو حخه چه صحابه کرامو رضی الله عنهم ورباندی اجماع کری، مخالفت هیحکله جایزنه دی.

۲۹- په اختلافی چارو کی باید کتاب الله او سنت رسول الله ته رجوع وشی.

۳۰- له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته صحابه کرام رضی الله عنهم او نور مسلمانان په مسایلو کی سهوه او اشتباه کولی شی،نو دکتاب اوسنت دنصوصو په مخالفت کی د هیچا قول د منلو ور نه دی.

۳۱- خلك په دریو دلو ویشل شوی دی:

الف- عام خلك:دا دله دعلم او دین په چارو کی دهغو کسانو تقلید کوی چه ورباندی سه او نیك گومان کوی.

ب- او دمجتهد عالم وظیفه دا ده چه د دلایلو په رنا کی راجح مسئله اختیار کری.

ج- متبع:چه دعلم او پوهی لویه برخه ورسره وی، دچا تقلید باید ونه کری.ددغی دلی مسؤلیت دا دی چه دشرعی احکامو سره په دلایلو باندی د داسی کسانو معرفت لاس ته راوری چه په دین او علم باندی اعتماد ولری.

۳۲-دبی دلیله اقوالو او اعمالو حیثیت یو شان دی، په یو نه یو باندی عمل کول جایز دی، په داسی حال کی چه دمکلف زره ورباندی مطمئین وی، په کوم قول باندی تعصب او جمود گمراهی ده.

۳۳- د مسلمان ولی امر اطاعت په هغو چارو کی پکاردی چه د مسلمانانو د مصالحو او گتو له پاره یی اجتهاد کری وی.

دهغه په نصیحت او خیر خواهۍ باندی عمل کول جایز دی او مخالفت ورسره په داسی صورت کی جواز لری چه په سکاره دول د الله تعالی د معصیت اونافرمانۍ حکم صادر کری.

په عمومی چارو کی دامیر اطاعت که حه هم د تأ ویل له دولونو حخه وی جایز دی، خو په هغو چارو او مسایلو کی چه په مخالفت کی یی دلایل موجود وی او مخالفت یی دمسلمانانو ترمنح دبی اتفاقۍ او گدودۍ وسایل برابر وی نو اطاعت یی جایز نه دی.

۳٤-:د انسانانو د نویو اقتصادی او تولنیزو مسایلو حکم په لاندی دول دی:

الف:که دغه نوی مسایل د ابزارو

او وسایلو څخه عبارت وی نو د استعمال په اعتبار ورباندی حکم کیدلای شی او که خیر وشر ئی دواړه ممکن وی نو مباح دی او استعمال ئی یوازی د خیر په چارو کی جایز دی.

(ب) اوکه دغه مسایل د معاملاتو له برخی څخه وی نو ددین دعمومی قواعدو او ضوابطو په اساس دتطبیق وړ دی.له محرماتو او منهیاتو څخه تر اجتناب او ځان ساتنی وروسته که هر څومره نوی مسایل راپیدا شی، هیڅ ډول پابندی وربانددی نشته.

(ج) او که دغه چاری د خوراك، څښاك او پوښاك او ډول ډال له ډوله وی، نو هغه چاری چه دحرمت په باب ئی شرعی نص موجود وی حرام دی او هغه چه په طبیعت، اخلاقو، بدن او نسل کی دفساد باعث کیږی، که لږ څه ګټه هم ولری بیا هم حرام دی.

۳۵- په دین او عبادت کی دنویو کارونو او طریقو ایجاد او اختراع ناجایزه ده.

د یو کار د حکم استنباط یا په انسانی ژوند کی د رامنځته شوی کومی معاملی په شرعی حکم باندی پوهیدل مطلوب دی خو د شریعت جوړولو په وخت د یو امر د موجودیت په صورت کی په هغه باندی دکوم نص نه نازلیدل، په داسی حال کی چه دهغه لپاره وسایل او بلونکی په زیات شمیر کی موجود وی،استنباط ئی ناجایز دی،ځکه چه دا کار په الله تعالی باندی د استدراك او اضافی معنیٰ لری.

۳۶-دشرعی احکامو په تطبیق کی د اجتهاد او استنباط څخه کار اخستل کیږی. په دی ډول په دنیوی چارو او مسایلو او ضرورتونو کی دکومی نوی مسألی دحل لپاره داجتهاد ضرورت پیښیږی چه ددغه ډول اجتهاد ممانعت جایز نه دی.

۳۷- یوازی هغه کسان چه داجتهاد او استنباط او افتأ استعداد او قابلیت ولری،کولی شی چه اجتهاد وکړی د نورو کسانو اجتهاد، استنباط او افتاء ناجایزه ده.

۳۸- هغه ادعا چه په دلیل او برهان باندی متکی نه وی دمنلو وړنه ده او نفی ئی هم بیله کوم دلیل نه ناجایزه ده.

۳۹-اخلاص، حق او صواب ته د رسیدلو د کوښښونو سره سره که په ځینو مسایلو کی نصوص وڼه موندل شی، د بشری طبیعت په بنأ د هغوی په باب د اختلافاتو رامنځته کیدل ضروری دی، خو هغه اختلاف یعنی د اختلاف نتأیج چه ددښمنئ او دعلایقو دپریکړی په شکل راڅرګندیږی حرام دی.

د اختلافاتو د حل لپاره الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم باید حکم وګرځول شی. که دلیل څرګند نه شی نو هر څوك باید خپل ورور معذور وګڼی او د زړونو پټ رازونه دی الله رب العزت ته وسپاری او په اخوت او محبت دی ټینګ واوسی.

۴۰-اجتهاد عبارت دی له یو شرعی حکم ته درسیدلو لپاره دعالم دین د ذهنی او فکری هلو ځلو او پلټنو څخه.که ئی دشرعی نص له مخی حکم بیان کړ، نو د الله تعالی دحکم سره سم ئی فیصله وکړه او که ئی په خپله پوهه باندی داتکأ او باور له مخی فیصله وکړه، نو وربانددی واجب ده چه دا عقیده وساتی چه که په دغه برخه کی الله تعالی کوم نص نازل کړی، نو دی به ورسره موافقه څرګندوی او دالله تعالی دحکم په خلاف به فتوی نه صادروی.

دین ته د رابللو څو اصول:

۴۱-ټول مسلمانان یو امت دی، په یو الله تعالی باندی ایمان دوی په

يو مزي باندى تړلى دى او يوه شريعت دوى رايو ځاى كړى دي.

كه مسلمانان په هرڅو ډلو او قبيلو باندى وويشل شى او كه هرڅو د هغوى كلى او هيوادونه سره جلا وى، خو ددغه وحدت لپاره دعوت يوه دينى فريضه ده.

٤٢- دهغو نژادى،وطنى او مذهبى تعصباتو په خلاف جګړه او د هغو نابودى چه داسلامى امت وحدت تهديدوى، يو ضرورى كار دى او همدا شان د هر ډول تفرقى او اختلاف اچولو په خلاف مبارزه دينى فريضه ده.

٤٣- هر ډول اجتماع او تعصب چه داسلام سره ضد او نقيض وى، باطل دى او دهغو په خلاف مبارزه كول واجب او دله منځه تګ ئى يو ضرورت دى.

٤٤- له كفارو،مشركينو او داسلام له نورو دښمنانو سره داتحاد او انضمام هر ډول دعوت باطل دى، كه څه هم دانسانيت، قوميت، وطنيت او ګوند ترعنوان لاندى هم وى.ځكه د دغه ډول اتحادونو په جوړولو دمسلمانانو تشخص له منځه ځى، له كفر سره مرسته كيږى او په مسلمانانو باندى د كفارو سلطه ټينګيږى.

ددعوت ځينى مقررات:

٤٥- دخپل وس او توان په اندازه د دين لورى ته دعوت واجب دى.

٤٦- ضرورى دا ده چه په دغه لار كى له مهمى مسئلى نه پيل وشى او ورپسى د نورو مهمو مسايلو لپاره دعوت پيل شى.

ددعوت طريقه او اسلوب بايد نصيحت لرونكى او حكيمانه وى.

اودجدال باحسن څخه كار واخستل شى.

٤٧- ددعوت لومړى فريضه ابلاغ او بيان دى.

٤٨-په عمل او كردار سره دعوت دژبى له دعوت څخه زيات بليغ او ګټور دى نو ځكه خو پكار ده چه دحق بلونكى دژبى او بيان څخه زيات په خپلو اخلاقو او عبادت كى دكمال او احسان د درجى دلاسته راوړو لپاره هلى ځلى وكړى.

٤٩- هغه كسان چه كه د دين لږڅه علم هم ورسره وى،بايد نوروته يى ورسوى.

د دعوت او تبليغ هدف:-

٥٠- خلكو ته دالله تعالى دلارى هدايت او لاربښوونه او د الله تعالى په بندګانو باندى دالله تعالى د دلايلو او حجتونو قيام او سرته ‌رسول، په عالمانو باندى دالله تعالى له لورى دعايد كړى شوى امانت اداً كول او په ځمكه كى دحق دكلمى لوړتيا او اعتلاً د دعوت او تبليغ ستر اهداف دى.

هغه كسان چه كولى شى يو له دغو اهدافو څخه سرته رسولى شى، بايد ددين لورى ته دعوت او تبليغ پيل كړى او كه له دغو اهدافو څخه ديوه له عهدى هم وتلى نشى نو د دعوت اهل نه دى.

٥١- د توحيد لورى ته دعوت او له شرك څخه اجتناب د دعوت اصلى هدف دى.

٥٢- داسلام اصولو او مباديو ته رجوع كول، دفروعاتو لور ته له دعوت څخه زيات اهميت لرى،بلونكى ته پكار دى چه دخپل مدعو په نظر كى نيولو سره ددعوت هدف وټاكى.

دالله تعالى له پاك ذات څخه هيله ده چه داسلامى دعوت بلونكى له پورتنيو اساسى اصولو څخه داسلامى امت دوحدت او خلكو ته د اسلام د مقدس دين د ارزښتونو د بيانولو په لار كى پراخه استفاده وكولى شى.

وما توفيقى الا با لله.

د اسلام لومړني مجاهدين

ابو ایوب الانصاري (رضی الله عنه)

دغه لوی او جلیل القدر صحابی له هغو پاکبازانو او دتوحید دتحریك له هغو سالارانو څخه ؤ چه دخپل ژوند هست اوبودئی داسلام دبنیرازی لپاره داو کړی وؤ. په اسلامی ټولنه کښنی به داسی څوك ډیرکم ولیدل شی چه دهغه له نوم سره آشنائی ونلری.ابو ایوب دمدینی له انصاروڅخه ؤ، اصل نوم ئی «خالدبن کلیب» او د «بنو النجار» له قبیلی څخه ؤ،خو کنیه ئی «ابوایوب» او پدی نوم سره مشهور ؤ. کله چه سید المرسلین صلی الله علیه وسلم له خپلو نورو گرانو ملگروسره له مکی نه مدینی ته هجرت وکړ، ابو-ایوب رضي الله عنه ته دا سعادت ورپه برخه شو چه سید الکونین صلی-الله علیه وسلم ته په خپل کور کښنی ځای ورکړی، یعنی داچه دسعادت او نیك مرغی چینه دده له کور نه روانه شوه او داسلام بڼ ئی ښیرازه کړ. کیسه داسی وه،کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی ته ورسید دمدینی خلکو په ډیر اخلاص سره دیو گران میلمه په حیث دهغه استقبال وکړ او دزړه له کومی ئی ورته ښه راغلاست ووایه.دمدینی خلکو ددی لپاره چه درسول الله صلی الله علیه وسلم او دهغه دملگرو په زړونو کی ځای ونیسی،دخپلو کورونودروازی ئی دهغوی پرمخ پرانیستلی،څو مسلمانان دهغو په کورونو کی په ډیر عزت سره دهجرت شپې او ورځی تیری کړی. رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی ته نږدی په(قبا)کی څلور ورځی تیری کړی. هغه په دغه موده کښنی هلته دتقویٰ په اساس یو مسجد جوړکړ، بیا پرخپلی او ښی باندی سپور له قبا څخه روان شو.د یثرب سپین ږیری اومخور مشران پرلاری هر چیری ودریدل او هریو ددی هیله من ؤ اوهڅه ئی کوله چه په خپل کورکی درسول الله صلی الله علیه وسلم په ځای نیولوسره لوی افتخارتر لاسه کړی، نو یو مخوربه په بل مخور پسی په لاره کی ودرید او داسی به ئی وویل:

ای دالله رسو له.مونږ سره واوسیږه ، مونږ ستا ملاتړ، ستاوسله ، او ستاقوت یو. هغه به وویل.« دعوها فانها ما مورة »

یعنی، هغه پریږدی ، هغی ته امر شوی دی.

او ښه دخپل مقصد ځای ته روانه وه.سترگوبه دهغی څارنه کوله اوزړونو به ورته مینه ښودله . کله چه به اوښه له یوه ځایه تیره شوه، نو دهغه ځای خلك به خپه او مایوسه شول او دنورو نږدی کسانو هیلو به دخوبنی او تمی ټو-

-پو نه وهل اوښه په خپل همدغه حال کېنې روانه وه اود خلکو انظار په هغې پسې ؤ چه دنیکمرغۍ خاوند وپیژني،څو دا چه اوښه د ابو ایوب الانصاري دکور انګړته ورسیدله او چوك شوه، مګر پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم ورباندې سپور ؤ.بیا اوښه پاڅیدله او روانه شوه،نبي علیه الصلاة والسلام دهغې تسماریری ایښي ؤ، خو څه څنډ ئې لانه ؤ کړې چه بیرته خپل پخوانی ځای ته ستنه اوچو که شوه.

په دغه وخت کښې د ابوایوب رضی الله عنه په زړه کې ډیره خوشحالي راغله اورسو ل الله صلی الله علیه وسلم ته ئې ښه راغلاست ووایه او دهغه صلی الله علیه وسلم سامان ئې واخیست اوخپل کورته ئې ننویست پداسې حال کې چه له ډیرې خو ښې نه په جامو کې نه ځائیده ، تابه ویل چه ددنیا ټولې خزانې ئې کورته ننویستې . دابوایوب کور دوه پوړیزه ؤ ، هغه دخپل کور دوهم پوړ درسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره خوشې کړ،مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه لاندیني پوړخوښ کړ اوابوایوب دنبي علیه السلام خوښې ته وکتل او لاندیني پوړئې ورپرېښود .

کله چه شپه شوه او الهي پیغمبر دخپل خوب په بستر کې پریووت ،ابو-ایوب او میرمن ئې دکور پاسنې پوړته وختل . دروازه ئې لانه وه بنده کړې چه ابو ایوب خپلې میرمنې ته وویل:

افسوس زمونږ په حال ،مونږ څه وکړل؟

آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم به لاندې وی او مونږ به پوړته یو؟

آیاد پیغمبر صلی الله علیه وسلم دپاسه به تګ راتګ کوو؟

آیاد پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د وحی ترمنځه به اوسو ؟

که داسې وی،نو مونږ به خامخا هلاکیدونکي یو .ښځه اومیړه دواړه خپه شول او دواړه نه پوهیدل چه څه وکړي ؟ دواړو ته هیڅ آرام نه ورته، ترڅو دواړه ددوهم پوړ هغې برخې ته ورغلل چه هغه دپیغمبر صلی الله علیه وسلم لپاسه نه وه او دواړه په ډیر احتیاط سره دپښو دګوتو په سرونو ګرځیدل او د کور په منځنۍ برخه باندې له ګرځیدلو څخه ئې ډډه کوله، ځکه فکر ئې کاوه چه هلته به رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې لاندې وی .

کله چه شپه تیره شوه او سبا شو، نو ابوایوب رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ.

یارسول الله، په الله سوګند دی چه نن شپه نه زماسترګه پټه شوې او نه دایوب دمور.رسو ل الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل.«ومم ذاك یا ابا ایوب»؟

یعني له څه سببه ای ابو ایوبه؟

هغه عرض وکړ .

ما را یاده کړه چه زه دکور په هغه بام یم چه ته ترې لاندې ئې، زه ویریدم چه که څه حرکت وکړم نوپر تاباندې به ګردونه پریوزي، پدې سره به تاته تکلیف ورسیږي اوبله دا چه زه به ستا او دوحي ترمنځه واوسم .

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

«هون علیك یا ابا ایوب انه ارفق بنا ان نکون فی السفل، لکثرة من یغشانا من الناس » یعني، پر ځان آسانتیا وکړه ای ابو ایوبه،مونږ ته

داښه ده چه لاندی واوسو، او دا لدی امله چه ډیر کسان زمونږ دکتلو دپاره راځی.

ابوایوب وائی:ما درسول الله صلی الله علیه وسلم خبره ومنله، تردی چه یوه شپه ډیره یخنی وه او زمونږ یوه کوزه ماته شوه او اوبه ئی پر پا سنی پوړ توئی شوی، نو زه او د ایوب مور دواړه د اوبو دوچو لو د پاره پاڅیدو،څنګه چه مونږ له یوه شال نه پرته نورڅه نه درلودل اوله هغه څخه مودبړستنی په توګه کاراخیسته، په هماغه شال باندی مو اوبه وچی کړی، څو دا اوبه په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی ونه څڅیری.سبا چه کله درسول الله صلی الله علیه وسلم حضورته ورغلم، عرض مو وکړ:

یارسول الله:موراو پلار می دی درنه جارشی، زه خوښ نه یم چه ستا د پاسه واوسم او ته لاندی و اوسی،بیا می دشپی حال ورته تیرکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم زما عرض ومانه او پورتنی پوړته جګ شو او مونږ د کورلاندینی پوړته ښکته شوو .

رسول الله صلی الله علیه وسلم داوه«۷»میاشتو په شاوخوا کښی د ابوایوب په کور کښی واوسیده،خو کله چه به هغه ځای کښی چه اوښه چو که شوی وه، یو مسجد جوړ شو او دمسجد په شاوخوا کښی دمحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم د بیبیانو لپاره خونی ودانی شوی، نو هغه خپلو خونوته ولاړ او د ابوایوب لپاره له خورا ښواو نیکمرغو ګاونډیانو څخه ؤ .

ابوایوب له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ډیره مینه درلوده او دهغه په مینه ئی زړه او فکر مست ؤ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم له ابوایوب سره ډیره مینه او علاقه ښودله او ټول تکلیفونه ئی ور څخه بچ کړی ؤ او دهغه کورته ئی دخپل کورپه شان کتل .

له ابن عباس (رضی الله عنه) نه روایت دی چه یوه ورځ ابو بکر صدیق رضی الله عنه دڅاښت په وخت چه ډیره ګرمی وه مسجد ته ورننووت، دعمر رضی الله عنه ورباندی نظر شو اوورته ئی وویل:

ای ابوبکره: هغه څه شی دی چه ته ئی په دغه ساعت کښی له کاره ویستلی(ضعیف کړی)ئی؟

هغه وویل:

بل څه نه یم ویستلی مګر دلوږی سختی.

حضرت عمر(رضی الله عنه) وویل : په الله سوګند چه زه هم لوږی له کاره ویستلی یم . په همدی حال کښی رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ددوی دواړو څنګ ته راغی او وئې فرمایل:«ما اخرجکما هذه الساعة ؟»

یعنی څه شی په دغه ساعت کی ویستلی یاستی؟

هغوی عرض وکړ:یار سول الله په الله سوګند چه بل څه نه یو ویستلی مګرد لوږی سختی چه خپلو نسونو کی دهغی احساس کوو .

نبی علیه السلام وفرمایل:

«وانا والذی نفسی بیده مااخرجنی غیر ذلك»

یعنی،زما دی په هغه ذات سوګند وی چه زما نفس دهغه په واك کښی دی چه بیله همدی لوږی بل څه نه یم ویستلی.

بیا ئی وویل:«قوما معی».

یعنی تاسو دواړه له ماسره راشئ .

دري واړه دابو ایوب کورته روان شول او دهغه دکور دروازې ته ودریدل.ابو ایوب به هره ورځ درسو ل الله صلی الله علیه وسلم لپاره ډوډۍ پر ېښودله ، کله چه به هغه ترنا وخته پورې رانه غی، نوهغه به ساتلې شوې ډوډۍ پر خپل اهل باندې وخوړله .

کله چه نبی علیه الصلاة والسلام له خپلو دوو ملگرو سره د ابوایوب دروازې ته ورسیده د ایوب مور راووتله، نبي علیه الصلاة والسلام ورته وفرمایل:«این ابوایوب»

یعنی ابو ایوب چیرې دی؟

ابوایوب چه خپل کورته نږدې پخپلو خرماؤ کی په کاربوخت ؤ، همدغه چه دنبی علیه الصلاة والسلام غږئې واورید،په ډیرې چالاکی سره کورته ستون شو او وئې ویل:

دالله پیغمبر او ورسره ملگرې دې په خیرراشې.

بیائې عرض وکړ:

اې دالله رسو له: ته خو کله پدې وخت کسې نه راتللې!

رسو ل الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

«صدقت» یعنی رښتیا دې وویل:

وروسته ابو ایوب خپلو خرما ؤ ته ولاړ او ورڅخه ئې درې ډوله خرماوې چه تمر، رطب او بسر(یعنې وچه، تازه او پوخوالې ته نژدې)خرما ئې د خپلو میلمنو لپاره راوړې، نبی علیه الصلاة والسلام ورته وفرمایل:

«ماأردت ان تقطع هذا،الاجنیت لنا من تمره ؟»

یعنی ما نه ؤ غوښتی چه دا وشکوې،ښه به داؤ چه تامونږ ته دهغې وچه (خرما)شکولې واې.هغه عرض وکړ

اې دالله رسوله! زما خوښه ده چه له ټولو قسمونو څخه ئې وخورې او زه خا مخا تاته حلاله هم کوم.نبی علیه الصلاة والسلام ورته وفرمایل:

«ان ذبحت فلاتذبحن ذات لبن»

یعنی که حلاله کوې، نو شیدې ورکوونکې حلاله نکړې.

ابوایوب سیرلې حلال کړ او خپلې میرمنې ته ئې وویل:

اوړه لانده کړه او مونږ ته ډوډۍ پخه کړه،ځکه چه ته په ډوډۍ پخولو ښه پوهیږې. ابوایوب.نیم سیرلې پوخ

کړ او بل نیم ئې کباب کړ،کله چه ډوډۍ تیاره شوه او دنبی علیه السلام او دهغه دملگرو په مخکې کیښودل شوه، نبی علیه الصلاة والسلام دسیرلې دپخې شوې غوښې یوه پوټۍ په ډوډۍ کې کیښودله او وئې فرمایل:

«یا اباایوب بادربهذه القطعة الی فاطمة فانها لم تصب مثل هذا من ایام»

یعنی اې ابوایوبه! دغه پوټۍ ژرفاطمې ته یوسه چه هغې له څو ورځو راهیسې داسې څه ندې لیدلې.

کله چه هغوې ډوډۍ وخوړله او ماړه شول، نو نبی علیه السلام وفرمایل:

«خبزولحم وتمر وبسر ورطب»

یعنی ډوډۍ او غوښه او وچه خرما او پوخوالې ته نژدې شوې خرما او پخه تازه خرما.په دغه وخت کې دنبی علیه الصلاة والسلام سترگو او ښکې وکړې اووئې فرمایل:

زما دې په هغه ذات سوگندوې چه زما نفس دهغه په واك کې دې، داهغه نعمت دې چه دقیامت په ورځ به ئې پوښتنه کیږي،نوکله چه داسې ومومئ

او په لاسو ئی خوری، نو وایئ چه «بسم الله»او کله چه ماړه شوی، نو ووائی:

«الحمد لله الذی هو اشبعنا، وانعم علینا فافضل» یعنی ټولی ثناوی هغه ذات لره دی چه هغه ماړه کړلو او پر مونږئی انعام اوفضل کړی دی. وروسته نبی علیه الصلاة والسلام پاځید او ابو ایوب ته ئی وویل:سبا مونږ ته راشه! چا چه به رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ښیګڼه وکړه، نو هغه به دښیګڼی په بدل کی مکافات ورکول، مګر ابوایوب درسول الله صلی الله علیه وسلم خبره وانه وریدله.نو عمررضی الله عنه ابوایوب ته وویل:

ای ابوایوبه! نبی علیه الصلاة والسلام تاته امر کوی چه ته به سبا ورته راشی.

ابوایوب وویل:په سر او سترګو، زه به درسول الله صلی الله علیه وسلم خواته ورشم، کله چه سبا شو ابوایوب درسول الله صلي الله علیه وسلم حضورته ورغی او هغه ورته دخدمت یوه وینځه ورکړه او ورته ئی وفرمایل:

«استوص بها خیرا یا اباایوب فانا لم نرمنها الاخیرا»

یعنی ای ابوایوبه !دهغی په باب زماد خیرخواهی نصیحت قبول کړه، ځکه څو چه هغه له مونږ سره وه ، له هغی څخه مو بیله خیره څه ندی لیدلی.

ابوایوب له خدمتګاری وینځی سره کورته ستون شو، کله چه په وینځی باندی دایوب دمور سترګی ولګیدلی، نو وئی ویل:

ای ابو ایوبه!دادچا ده ؟

هغه وویل:دغه وینځه مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم راکړی ده.

هغی وویل:څومره لوی بخښونکی دی او څو مره ښه ورکړه ده.

هغه وویل رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغی په باب مونږته وصیت کړی دی.هغی وویل:څه وکړو څو چه درسول الله صلی الله علیه وسلم وصیت عملی شی؟

هغه وویل:په الله سوګند چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوصیت په مقابل کی ښه دا وینم چه هغه آزاد ه کړم.

هغی وویل: سمه خبره دی وکړه، ته موفق ئی، بیا هغه وینځه آزاده کړه. دابو ایوب رضی الله عنه مناقب ډیردی چه زمونږ مقال دهغو ټولو دذکر ولو توان نلری، خو په پای کی به دومره ووایم چه ابو ایوب هغه میړنی غازی ؤچه درسول الله صلی الله علیه وسلم دژوند په ټولو غزواتو کی ئی ګډون درلود اوله هغه وخت نه نیولی بیا د معاویه رضی الله عنه ترزمانی پوری په ټولو غزواتو کی دکفر پر ضد جنګیدلی او خپله میړانه ئی ښودلی ده، څو داچه په پای کی داتیا کلنی په عمر دقسطنطنیی دفتحی په غزا کی له یوی ورپیښی شوی ناروغی وروسته له فانی دنیانه رخصت شو.

(رضی الله عنه).

تعلیمات اسلامی

اخلاص

پیوسته بگذشته

پیامبر بزگوار اسلام فرمود :این جهان را چهار گونه انسانها احتوا می کند: یکی آنکه خداوندلایزال برایش بهره بیشتری از علم ومال اعطاءنموده باشدو او از پروردگارش می هراسد، بر مردمان ترحم می کند ومیداند که درعلم ومال وی حق الله تعالی ثابت است و حق پروردگارش را ادا می کند.بدانیدکه این شخصی است افضل المنازل که در درجه نخست قرار می گیرد.دومی آنست که خداوند ازنعمت علم مستفیضش ساخته اما از مال محروم است، فهوصادق النیة یعنی نیت او خالص باشد ونیت واراده اش اینست که اگر مال میداشت در راه الله صرفش میکرد ،طوریکه فلان شخص مالش را در راه الله صرف میکند:فهو بنیته فاجرهما سواء:یعنی هردوی شان از اجر وپاداش مساوی بهره می گیرند.

سومی شخصیست که خداوند برایش مال و سرمایه اعطاء کرده باشد اما ازعلم بهره ای ندارد، وی سرمایه اش را طور غیر منظم صرف میکند نه ترسی از خداوند را مدنظر داشته ونه حق مردم را می شناسد، بلکه همه را در راه مفاسد به خرج میرساند:فهذا باخبث المنازل، در بدترین مراتب قرار دارد.

چهارمی شخصی است که ازبارگاه الهی نه بهره ای ازعلم دارد و نه مال،آرزو میکندکه اگر مال و سرمایه میداشت همچون فلان و بهمان (مفسد)به خرجش میرساند فهو بنیته.وی باساس نیت و اراده اش باهمان شخص مفسدبرابر است.

(احمد-ترمذی)

برادران گرامی خواننده عزیز:

شما منحیث مجاهدین ومهاجرین فی سبیل الله،همه شئون زندگی تان را با اخلاص ونیت پاك آغاز نمائید، کار یراکه میخواهید انجام دهید نخست باید اراده وتصمیم تان برای انجام آن مخلصانه وصادقانه باشد وجزرضای الهی هدف دیگری را درآن مدنظر نگیرید و ایقان کامل داشته باشید که درصورت داشتن نیروی اخلاص همه امور فردی

واجتماعی تان بصورت احسن انجام خواهد یافت.

ریا و تظاهر و خودنمائی اگر باعمال انسانی سایه افگند، بدون شك اعمال صالحه را چنان جریحه دار میسازد که نتایج وپاداش آن جز عذاب وعتاب خداوندی چیزی بیش نیست.

پیامبربزرگوار اسلام می فرماید:

۱-من صام یرائی فقد اشرك.

یعنی هر که غرض تظاهر روزه گرفت مرتکب شرك گردید.

۲-ومن صلی یرائی فقد اشرك.

وهرکه به نیت ریا وتذویر به ادای نماز پرداخت مرتکب شرك شد.

۳-ومن تصدق یرائی فقد اشرك

وهر که برای تظاهر وخود نمائی به صدقه وخیرات پرداخت مرتکب شرك گردید.

(بیهقی-ترغیب)

میدانید که شرك ازجمله بزرگترین گناهان است و مرتکب شرك هرگز مورد عفو خداوندی قرار نمی گیرد وهمین شرك است که اعمال انسانی رابه هدر می برد پس می باید از ریا که در حقیقت شرك است خود را برحذر داشت زیرا ریا کار ومذور قبل ازهمه واردجهنم میگردد، پیامبراسلام می فرماید:

الیسیرمن الریاء شرك. (ترغیب)

یعنی شمه ای از ریا نیز شرك است.

واین گونه شرك رابنام شرك اصغر یاد کرده اند، وفرموده اند از شرك اصغر در هر اسم. صحابه کرام رضی الله عنهم عرض کردند شرك اصغر یعنی چه؟فرمود: تظاهر و خود نمائی.

یعنی کاریکه برای تظاهر به مردم انجام یابدشرك اصغر است

(ترغیب- مشکوة)

رهبر بشریت در حدیث متبرکه دیگر می فرماید:

«نعوذوا بالله من جب الحزن»

یعنی به خداوند جل جلاله پناه ببرید ازجب حزن (چاه غم)

صحابه کرام رضی الله عنهم عرض کردند، یارسول الله«جب حزن» یعنی چه؟

آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمودند:جب حزن عبارت است از چاهی که در جهنم موقعیت داشته و جهنم از بودن آن روزانه چهار صد بار به خداوند پناه می برد، صحابه عرض کردند.

یا رسول الله ومن یدخله، کیست سزاواز آن؟ آنحضرت فرمودند:القرأ المراء ون باعمالهم (ترمذی)

یعنی قرائیکه بخاطر تظاهر به مردم به قرأت می پردازد وعمل به ریا می کند.وآنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود:

لایقبل الله عملاً فیه مثقال حبة من خردل من ریاء (ترغیب)

یعنی عملیکه در آن به اندازه دانه خردل نیز ریا وتظاهر دخیل باشد، نزد الله تعالی مورد پذیرش قرار نمی گیرد ونه برایش اجر وپاداش نصیب میگردد،بلکه برایش دستور داده خواهد شد به هرکه میخواستی عملت را بنمائی، برو و ازنزدش خواستار اجر وپاداش باش.

معلم انسانیت پیامبر صلی الله علیه وسلم می فرماید:روز رستاخیز روزیکه همه اقشار بشر درمیدان حشر به حضور خداوند متعال حاضر

شوند، اعلام خواهد شد کسی که در اعمالش کسی دیگری را با خداوند شریك وانباز قرار داده باشد اجر وپاداش عملش را نیز ازو خواستار شود.

زیرا الله تعالی از شریکان و انبازان بی نیاز ومستغنی است و وعده خداوندی اینست هر که باذات یکتای الهی شریك وانباز بتراشد در آخرت بهره ای از بارگاه احدیت برنخواهد داشت.

الله تعالی در قرآن عظیم الشأن می فرماید:

«من کان یرید حرث الاخرة نز د له فی حرثه و من کان یردحرث الدنیا نوته منها وما له فی الاخرة من نصیب»

یعنی آنکه ارزویش کشت آخرت است ما درآن کشت برکت خواهیم نهاد وآنکه کشت دنیا را ارزو می کند درین جهان برایش میدهیم اما درآخرت حصه ای نخواهد داشت.

دوسوره هود می فرماید:

«من کان یرید الحیوة الدنیا و زینتها نوف الیهم اعمالهم فیها وهم فیها لایبخسون اولئك الذین لیس لهم فی الاخرة الا لنار وحبط ماصنعوا فیها وباطل ما کانو یعملون»

ترجمه:آنکه زند گی این جهان وزرق وبرق آنرا آرزو دارد ما برایش صله اعمالش را بدون کم وکاست می پردازیم. برای این جور مردم در زندگی اخروی جز جهنم بهره ای نیست وکلیه اعمالش به هدر رفت.

از حضرت عمررضی الله عنه پرسیده شد، اخلاص چیست؟فرمود اخلاص اینست که انسان درانجام کاری این آرزو را در دل نه پروراند که مردم به مدح وتعریف وی بپردازند بلکه خواهش قلبی اش از ایفای عمل این باشد که الله تعالی آنرا بپذیرد وبپسندد.

حضرت جنید بغدادی در مختصر شعب الایمان می فرماید:

اگر شخصی فقر ومسکنت وعجز و انکسار حضرت آدم علیه السلام، زهد وپارسائی حضرت عیسی علیه السلام،صبر وشکیبائی حضرت ایوب علیه السلام، اطاعت و فرمانبرداری حضرت یحی علیه السلام، استقامت و پایداری حضرت ادریس علیه السلام و عشق خداوندی چون حضرت ابراهیم علیه السلام واخلاق عالیه ای چون حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم را در خویشتن ایجاد نماید،اما با آنهم اگر ذره ای ازمیلان قلبی اش به صوب کسی دیگر جز الله تعالی باشد و شمه ای از ریا وتظاهر در اعمال صالحه اش پدیدار گردد، همه ای این اعمال وصفات عالیه اش برباد می رود ونزد خداوند جل جلاله مورد پذیرش قرار نمی گیرد بلکه آفریدگار به اعمال وی وقعی نخواهد گذشت.

حضرت زبید می فرماید:انسان باید در کافه امور زندگی اعم از خوردن ونوشیدن وخفتن وبرخاستنش حصول رضای الهی را آرزو برد.

جمهوریت درآئینه اسلام

ترجمه: نبیل

چونکه در اطراف لفظ(جمهوریت)یك هاله از تقدس ترسیم کرده شده است باین وجه درعصر حاضر منادیان و داعیون زیادی بسوی آن پیداشده است (نه فقط همین) بلکه گروه های زیادی در زیر چادر آن جمع شده اند واین گروه ها هر کدام برای جمهوریت معانی ومفاهیمیکه ساز گار به عقیده وهم آهنگ بامقاصد شان باشد- داده اند- در نتیجهء این ذهنیت معانی آن جوانب وپهلو های مختلفی رابخود گرفته است و در ابعاد آن نیز اضافه شده است،حتی در نتیجه این(تعبیرها و تفسیرهای گوناگون) لفظ جمهوریت در وهله نخست بخاطر مفهومیکه وضع کرده شده بود، حالا از آن بکلی دور شده است.پس فعلاکه مادرصدد بررسی وگفتگو در پیرامون آن هستیم،واجب ما است که تمام آن معانی و مفاهیمیکه لفظ جمهوریت درآو مستعمل است، زیر بحث بیا وریم، خواه این استعمالات همان استعمالاتی باشد که آنها را خالقین لفظ جمهوریت برای آن وضع کرده باشند ویا این معانی را مردمان دیگری بآن چسپان نموده باشند ویا کیف ما اتفق(بدون در نظر گرفتن وضع اصلی کلمه)،گروهی از انسانها به استعمال آن (مفهومات) در کلمه جمهوریت پرداخته باشند در عین حال خواه تعلق آن(معانی) به مبدأ واساس عقیده باشد ویا به آن کیفیت باشد که اصدار احکام ومعالجات آن خاص بان مبداء باشد یعنی خواه تعلق آن (معانی)به دستور وقانون باشد ویا به اسلوب ورو شیکه تتبع وجستجوی آن بخاطر رسیدن به سوی کدام حکم ویا رأی باشد ویاتعلق او به حواله آن تعبیر وتفسیری باشد که متعلق به طرز عمل حکام وذمه داران حکومت باشد یعنی تعلق آن باین امر بوده باشد که او (حاکم) از دیگران چگونه اخذ مشوره نماید؟و نزد آنها نوعیت شوری چه قسم است؟- مانند گرفتن وانداختن ووت وطریقه معلوم کردن رأی اکثریت واقلیت ویا شکل دیگری غیر ازین- وخواه برای کسب این ارا،وحصول آن طریقه بلند نمودن دست ها استعمال شود ویا از تقسیم پارچه های سری ومخفیانه کار گرفته شود یا تعلق آن باین امر بوده باشد که موافقین وحامیان حکومت در طرف راست پارلمان ومخالفین آن در طرف چپ او نشسته باشند، بالآخره درین سلسله هرگونه اسلوب وروشیکه بکار انداخته می شود، همگی باید در ذیل بحث وبررسی بیاید. ازمعانی متذکره فوق چند آن بگونه ایست که آنها رایاخود خالقین این لفظ (جمهوریت)مخصوص آن کرده اند ویا کسانی دیگری آنها رابآن چسپان نموده اند.

حال اولاً در مورد معنای حقیقی آن تبصره می نمائیم.تا جایکه تعلق به معنای حقیقی آن دارد، مطلب آن ازین

قرار است که جمهوریت عبارت ازسیستم ونظامی است که از قوم و برای قوم وبتوسط قوم باشد.لفظ جمهوریت(دیموکراسی)دراصل یك لفظ یونانی بوده که ازدو کلمه ترکیب یافته است:(دیمو)و(کراسی)به معنای آقائی وسیادت قوم وخود مختاری وآزادی آن (قوم)یعنی به اساس این تصور جمهوریت فقط قومست که رأی آزادانه خود را استعمال میکند وهمین قوم است که برای خود قوانین و نظام حیات وضع میکند وهمین قرم است که حکام وامراءبرای خود انتخاب میکند و این قوم است که نفاذ نظام حیات وقوانین وضع کرده خود را امر حتمی دانسته وبشریت راپابند وتسلیم آن می سازد.

به همین طور گاهی از او (جمهوریت) تعریف کرده می شود که جمهوریت عبارت ازیك سیستم اجتماعی است که علم بردار ارزش وقدر وقیمت فرد وشخصیت انسانی و احترام وتقدس او بوده ودر حل وبهبود مسائل ومعاملات معاشره و اداره وکنترول آن پیشتر وبیشتر از همه افراد و اعضای معاشره راشریك و سهیم دانسته وپایه های نظامش رابر اساس آن استوار می نماید. به همین طور برای این لفظ(جمهوریت) اسمای چند دیگری نیز وضع کرده شده است که با اصل معنی ومفهوم آن ارتباط ونزدیکی زیادی دارد، مثلا گفته می شود:

۱-جمهوریت سیاسی

(DEMO CRACY POLI-TICAL)

مطلب از جمهوریت سیاسی اینست که حکومت درمیان مردم بر مبنای حریت و مساوات بوده باشد وبه اساس آن در میان مردم هیچگونه تمیز زبان، مذهب،قومیت ویاازین قبیل امتیازات خونی ورنگی تصور نشود.

۲- جمهوریت انتظامی:

(APMINISTRATRATIE) (VDEMOCRACY)

اطلاق جمهوریت انتظامی برآن گونه جمهوریت کرده می شود که درآن قیادت ورهبری بدست اجتماع بوده باشد وبه اساس مشوره ومشارکت آن اجتماع اداره شود ودر دوران انجام انتظام و انصرام علاوه از اشخاص مسؤل وذمه داراز عام ملازمین مشوره گرفته شودودرآنها احساس شرکت وسهیمیت پیدا کرده شود.

۳-جمهوریت صنعتی:

INDUSTRIRIAL DEMO) (CRACY

مطلب ازین جمهوریت این است که صنعت را به اساس وبنیاد جمهوری طوری تنظیم کرده شودکه کارگر را در انتظامیه ومنصوبه بندی شریك کرده واعمار وکار های صنعتی توسط کمیته ها نگرانی شود، مثلاً در آنجاکمیته های پیداواری تشکیل داده شود، هکذا بخاطر رفع نزاعات وجار وجنجال ها کمیته های تشکیل داده شود، جان سخن اینکه بخاطر حل وفصل قضایا ومسایل خود را ازطریق آن کمیته هابه حل وفصل برسانند.

٤-جمهوری مرکزی:

CENTRAL DEMO-
-CRACY

ازنقطه نظر اشتراکیت جمهوریت مرکزی حیثیت اساس وشالوده نظام را دارا است واز نقطه نظر این جمهوریت در میان تمام اعضای حزب از خورد ترین وپائین رتبه ترین فرد آن گرفته تابزرگترین وعالی رتبه ترین آن انتخاب صورت میگیرد.به هیمن طور ازدیدگاه این جمهوریت رپورت فعالیت ها وکار کردگی های تنظیمی مرحله وار به اراکین(حزب)پیش کرده می شود.درین نظام(نظام اشتراك) مفهوم جمهوریت همین است وبس. به همین طور از نقطه نظر ایشان نظر به ایجاب و خواست این نظام اقلیت باید تابع و فرمانبردار اکثریت باشد.تنفیذ فیصله ها وقرار دادهای ادارات ودوایر عالی وفوق به ادارات و دوایر ادنی وپا ئین لازم وحتمی است وآنچه که درین نظام به عنوان مرکزیت وهسته مطرح است جز همین سلطه وحاکمیت ادارات عالی بر ادارات پائین چیز دیگری نیست. این همه(معانی ایکه

درفوق برای لفظ جمهوریت بیان شد) مجموعه همان معانی است که برای لفظ جمهوریت بلکه برای جمهوریت بطور یك اصطلاح استعمال کرده می شود، خواه این اصطلاح به آن مفهوم ومعنای جمهوریت بطوریك اصطلاح فشرده وخلاصه اش اینست که:از نقطه نظر این نظام اقتدار اعلی مخصوص قومست وحق مشروع ومسلم او (قوم) است که اداره خود را دردستور سازی ووضع قوانین وتقرر نظام زندگی مکملاً اظهار نماید، هم چنان از نقطه نظر آن (نظام جمهوریت)حق مشروع ومسلم قوم است که توسط رأی آزادانه خود بدون کدام جبر و اکراه حکام خود را منتخب کنند، نظر بآنچه که در سطور فوق گفته شد دانسته می شود که آزادی های عمومی(درین نظام)حیثیت اصلی را دارد که تهیه وتوفیر آن برای هر فرد حتمی وضروری به شمارمی رود، تاکه درزیر سایه آن (آزادی)هرفرد بتواند به حکمران مشوره بدهد ودر انتخاب آن(حکمران) شریك شود، از نقطه نظر جمهوریت این (آزادی)همان اصل وبنیاد است که کاخ مجلل وسر به فلك این نظام به بالای آن استوار وقایم است وبه او(جمهوریت مرکزی) نظریه حیات سرمایه دارانه نیز گفته شده است، بخاطر اینکه درین نظام یگانه عنصر نمایان وبارز سرمایه است وبه همین عقیده اساس وبنیاد این نظریه(نظریه حیات سرمایه دارانه) بنانهاده شده است، وجود این نظر یه حیات نتیجه آن کشمکش های خونین است که مابین کلیسا وامراء به وقوع پیوست. علت این کشمکش ها همانا کوشش های بی دریغ وپافشاری های زیاد کلیسا بخاطر باقی وساری ماندن تسلط و حاکمیت خود برسرنوشت و مقدرات مردم بود.این کشمکش ها میان این دو گروه متخاصم ونبردآزما بجائی نرسید و ازین دو گروه هیچکدام درحق موقف خود فیصله کرده نتوانست.درین دوران(دوران کشمکش کلسیا وامراء)بود که یك گروه ازمتفکرین برخواستند، ندا و بانگ جمهوریت رابلند نمودند به این طور که برای مردم بطور کلی اختیار داده شود، تا امراء وحکام خود را انتخاب کنند،خود برای نفس خود قوانین و نظام حیات وضع کنند، و در پهلوی آن معاملات و اموریکه مخصوص کلیسا است در آنها اقتدار اعلی به کلیسا تسلیم و پذیر فته شود، پس اتفاق کنند. این معاهدات معاشرتی ایجاب میکند که هر فرد ازیك مقدار حصه خود در حق همان گروهیکه بخاطر حفاظت ودفاع از حقوق افراد دیگر بپا خاسته است، دست بردار شود. ازینکه قیام معاشره ها واجتماعات سیاسی همیشه باساس یکنوع ارتباطات و تعلقات درمابین افراد آن می باشد، بنا بر این برای ایشان وضع کردن چنین یك دستوری که شکل وصورت ریاست وشکل وصورت هسته های ریا ستی راتعیین نماید و نوعیت تعلق این هسته ها را به اصل ریاست بگونه ای کهء هست، به آن سر وصورت ببخشد از حد ضروری ونا گزیر است، پس از آن برای دستور این نیز از بس ناگزیر می باشد که او(دستور)را طوریك مجموعه تیار کندکه ازآن (مجموعه)تشکیل آن معاشره متحقق شونده باشد، ازین وجه به ذمه افراد معاشره لازم است که آنها ازمیان خود چنان افراد را تعیین وانتخاب کنند که برای آنها (افراد معاشره)نظام حیات وزندگی را تعیین کنند.به همین طور آنها(افراد معاشره) از چنین جماعت نیز عهد و میثاق بگیرند که برای ایشان قانون سازی کند،بخاطر یکه برای قانونسازی فقط عوام است که بنفسه حیثیت مصدر وحیدرا دارا است. زیرا از روی این نظریه این امر بطور قطعی طی شده است که دین ویا مذهب در زندگی مردم وتعلقات باهمی آنها حق هیچنوع مداخلت ودست درازی را ندارد.به همین علت است که عقیده این نظریه حیات را به عقیده جدائی دین از دنیا موسوم میکنند، از روی این نظریه حیات، افراد حق دارند که حکام وامرای خود

را فقط خود تعیین کنند، تاکه آنان(حکام وامراء) قوانین منظور شده ووضع کرده آنها رانافذ کرده بتوانند.

پس از دیدگاه این نظریه خود افرادهستندکه هم دستور سازی میکنند، هم نظامهای حیات راتعیین می کنند وهمین افراد هستند که برای خود قانون وبرنامه حیات می سازند، سپس آن هسته انتظامی که در حقیقت عامل وتوظیف شده از جانب مردم می باشد، عامة الناس را دلداده و خریدار آن نظامهای حیات وحکام آن می سازد ودرین کار دین ورجال دین ویا اصحاب تقدس هیچکدام حق مداخلت در قانون سازی و تنفیذآز ندارند. ولی ازینکه شرکت همه افراد درین امر (قانون سازی) ناممکن است، باینطور که همه افراد تمام این احکام ودستورات و یایکی آن را خود وضع کرده بتوانند. بخاطریکه اجتماع وگردهمائی تمام افراد دریك مكان خاص ویا اجتماع ایشان در اماکن متعدد ممکن نیست.به همین طور تفاوت ها و تناقضات و اختلافاتیکه درافراد طبعاً وجود دارد، این امر (قانون سازی همگی)رامشکل وتقریباً نا ممکن می سازد. زیرا اینکه تفاوت قوت های عقلی وجسمانی افراد وتفاوت استعداد های ایشان از نا حیه ضعف و قوت یك امر بدیهی ویك حقیقت مبر هنی است که هیچکس از آن انکار کرده نمی تواند، هکذا انگیزه های فکری ونفسانی در انسانها متفاوت ومتناقض است، هم چنان اختلاف در طرز یست وزندگی وتفاوت معاشره ها که برافراد معاشره اثرات ونشانات خودرا حتما مرتب میکند، ازجمله حقایق ثابت شده ومسلم است، نظر به علل و اسباب متذکره آخر الامر طرفداران مکتب فکرجمهوریت مجبور به اتفاق این امر شدند که بجای تمام مردم(تقریباً محال است) به رأی اکثریت اتفاق کنند و لو اینکه از اکثریت فقط نام آن باشد (نه در واقع وفی نفس الامری) سپس خواه این رأی اکثریت درست باشد یا غلط، این همان بنیاد یست که جمهوریت یعنی نظریه حیات سرمایه داری برآن استوار است.

در روشنائی حقیقت مذبور ما مدعی هستیم که جمهوریت به اعتبار تمام معانی خود صرف به یك اصل وقاعده قایم است وهمین قاعده برای او حیثیت عقیده وفکر وقیادت ورهبری را دارد که آن عقیده عبارت است از جدائی دین از حیات دنیا، از جمله ممیزات این مکتب فکر یکی هم اینست که خود انسان برای خود قوانین تعیین میکند وباین هدف وآرمان نایل نمیشود، تاوقتیکه برای او سیادت وقیادت حاصل نباشد وتا وقتیکه اراده خود را کا ملا بروی کارنیارد ویا بالفاظ دیگرتا وقتیکه برای او (انسان) آزادی عمومی وحق استعمال وبروی کار آور دن آن (آزادی) میسر نشود، لهذا هر گه ما درصدد بحث وبررسی این امر بو ده باشیم که اساس وبنیاد فکر جمهوریت صالح است ویا فاسد، پس ضروری است که اولادر مورد عقیده ایکه جمهوریت برآن قایم واستوار است بحث کنیم، به همین طور در مورد آن اصل وبنیاد یکه(حل وسط) جمهوریت برآن استوار است، نیز گفتگو کنیم، سپس در باره مصدر تشریعی آن گفتگو کنیم یعنی در مورد آن انسانی گفتگو کنیم که او برای خود هر گونه حق قانون ساز ی ودستورسازی ووضع نظام حیات وزندگی را داده است، پس هر گاه ثابت شود که این سه اصل وبنیاد جمهوریت فاسد است، آنوقت است که این حقیقت نیز هو یدا وآشکارمی شود که معا لجات وتدابیر یکه از آن صادر می شود وافکار وتصور اتیکه برآن مبنی است نیز بطور قطعی فاسد وناصالح است، بخاطر یکه چیز های مذکور بجای رسانیدن انسان رابسوی یك سعادت وخو شبختی، او رابسوی بدبختی و نامرادی وبسوی تباهی و قهقرا می کشاند.



دقرآن او سنت په رڼاکې

دکندز له ښار څخه محترم ورور انجینر عبدالجلیل دخپل اوږد او په زړه پوری لیك په ترڅ کی پوښتنه کړی چه ایصال ثواب جایز دی که نا جایز؟که جایز وی نو طریقه یی څه ده؟

ځواب:ایصال ثواب جایز دی او دولونه یی مختلف دی:که کوم مسلمان دوفات شوی شخص لپاره دبخښنی دعا وغواړی ثواب یی متوفی ته رسیږی په دی شرط چه میت مشرك نه وی. لکه څنگه چه الله تعالی په قرآن عظیم الشأن کی فرمائی:

والذین جاؤمن بعدهم یقولون ربنا اغفرلنا ولاخواننا الذین سبقونا بالایمان ولاتجعل فی قلوبناغلاللذین امنوا ربناانك رؤف الرحیم (الحشر-١٠)

ترجمه:اوله مهاجرینو څخه وروسته چه کوم کسان راغلی دعا کوی چه ای زموږ پروردگاره زموږ او زموږ دهغو ورونو گناه چه زموږ څخه یی وړاندی ایمان راوړی معاف کړی او دمؤمنانو په باب زموږ په زړونو کی کینه او حسد مه پیدا کوه.ای زموږ پروردگاره ته ستر شفیق او مهربان ئی.

دغه شان دجنازی دلمانځه په ترڅ کی چه کومی مختلفی دعا گانی لوستل کیږی ثواب یی هم میت ته رسیږی.

۲دمړی له طرفه روژه نیول:

که په وفات شوی شخص باندی روژې قرض وی او دهغه ولی ئی ونیسی نو ثواب ئی هم مړی ته رسیږی.لکه څنگه چه په حدیث مبارك راځی:

١-عن عایشة رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله

عليه وسلم قال:من مات وعليه صيام صام عنه وليه.

يعني دحضرت عايشې رضى الله عنها څخه روايت دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل كه څوك په داسې حال كي مړشي چه وربانډې روژې پاتې وي نو دهغه ولي دې دهغه له خوا ونيسي.

(بخاري-مسلم-ابوداود- مسنداحمد)

۲- له ابن عباس رضى الله عنه څخه داحديث روايت دى چه:

ان سعد بن عباده رضى الله عنه استفتى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال ان امي ماتت وعليها نذر؟ فقال اقضه عنها.

(بخاري-ابوداود-نسائي-ترمذي)

ترجمه:سعد ابن عباده له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چه مور مي وفات شوي او وربانډې نذر پاتې دى نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ته ئې دهغې له طرفه پوره كړه.

دمړي له خوا پور اداءكول:

كه په مړي بانډې دچا پور پاتې وي هر څوك ئې كه اداء كړي كه دمړي خپلوان وي او كه نور څوك، ثواب ئې مړي ته رسيږي. په دې باب دحضرت جابر بن عبدالله څخه روايت مشهوردى چه وائي:يو سړى وفات شو، غسل ورکړى شو كفن ورواغوستل شو، جنازه ئې تياره شوه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دجنازې داداء كولو اطلاع وركړى شوه، آنحضرت تشريف راوړ. وئې ويل:

شايد ستاسو په دې ملګري پور پاتې وي. ورته عرض وشو،هو: دوه ديناره وربانډې پور پاتې دي. آنحضرت صلى الله عليه وسلم وفرمايل تاسو پخپله دده دجنازې لمونځ وكړى.ابو قتاده عرض وكړ، يارسول الله! دغه دوه ديناره به زما په ذمه شي. وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم د جنازې لمونځ اداء كړ. بله ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم له ابو قتاده نه دهغو دوو دينارو پوښتنه وكړه.ابو قتاده وويل:اى دالله رسوله!ما هغه دوه ديناره پور اداءكړ.آنحضرت صلى الله عليه وسلم وفرمايل:«الان حين بردت عليه جلده،» اوس ئې دبدن پوستكى يخ شو.

يعني دپوردااداءكولو په وجه ترې عذاب رفع شو.(مستدرك حاكم)

٥-دمړي لپاره دهغه دنيك اولاد دعا:

كه له چا څخه په دنيا كي نيك اولاد پاتې شي ترڅوچه نيك اعمال سر ته رسوي ثواب ئې مړي ته رسيږي . لكه څنګه چه په صحيح مسلم كي راغلى دى:

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

اذامات الانسان انقطع عنه عمله الامن ثلاثه الامن صدقة جاريه اوعلم ينتفع به او ولد صالح يدعوله .

يعني كله چه انسان وفات شي نو ټول اعمال ئې ورڅخه پر ى شي خو درې كارونه ئې ورسره ملګر ى وى . صدقه جاريه ، هغه علم چه ورڅخه استفاده كيږي او نيك اولاد چه ورته دعا كوي.

دغه راز دآحاديثو په ټولو مجموعو كي څرګنديږي چه د مړ ى له طرفه صدقه، حج او عمر ه هم اداء كيداى شي.

دليکونو بهير

دعـــوت مجله
پوسټ بکس: ٦١٤- G.P.O -پشاور
پاکستان

دجندول له تورکيمپ ځخه ميراحمدگل وروړليکي:

محترم ددعوت پښتو مجلې مدير او نورو کارکوونکو!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

عزتمندو: دا يو انکارنه منونکې حقيقت دی چه ددعوت مجله د سلفي کاروان هغه روښانه او بل چراغ دی، چه خلکو ته ريښتينې حقايق او دقرآن او سنت اصلي منهج وړاندې کوی اودشرك او بدعاتو مقابلې ته يې هڅوی. داچه دتيرو څو پرله پسې گڼو مضامين مو هريو پخپل ځای جدا جدادپرخوبښ شويدې، پدې اساس تاسې ددعوت مجلې کارکوونکو ته لمړی مبارکي او بيامو دلاکاميابۍ دعا له رب العزت څخه کوو.

مونږ يوه گيله لرو او هغه داچه دعوت پښتو مجله اول په وخت رارسيږی نه او چه بيارارسيږی نو په ډير کم تعداد، داڅه وجه ده؟ هيله ده چه زمونږ داغوښتنه پوره کړئ او دوخت سره سم په کافي تعداد راته مجلې ورسوئ.

«ديره مهرباني»

ستاسې وروړميراحمد گل

دامام محمد بن اسماعيل البخاری (رحمه الله) دشرعي فاکلتې څخه امين الحق «امين» وروړليکي:

محترم ددعوت پښتو مجلې مدير او نورو عزتمندو کار کوونکو!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

محترمو ورونو: ستاسو دغه بې ساری خدمت او قرباني چه دتل لپاره دتوحيد عقيدوی درسونه او هم نور عام داسې حقيقي معلومات خپروی، چه په اوسني عصر کې لانور څوك پدې وياړنه دی مشرف شوی. دلايزال رب څخه غوښتنه کوم، چه ستاسې دغه داخلاص څخه ډك گامونه نور هم په وړاندي گړندي او موثر کړئ. لاندينې څو وړانديزونه در ليږم، هيله ده چه تر غورلاندي يې ونيسئ:

١- عقيدوی مضامين دپښتو سره سره په فارسي ژبه نشرول.

۲-داسلامي امارت دجيدو علماؤ او قومندانانو مرکی .
۳-داهل تشيع او نورو باطلو ډلو دبطلان دلايل او موضوعات.
٤-دمؤحدو شاعرانو وروڼو شعرونه.
۵- او دشهيد شيخ (رحمه الله) دژوند حالات او خطبات.

«په درنښت»

ستاسی وروزامين الحق «امين»

محترم ددعوت مجلی سرمحرر او نورو هم آوازه ملګرو!

زمونږ دمينی او محبت نه ډك سلامونه قبول کړئ.

الحمدلله ډير زيات خوشحاليږم، کله چه ددعوت دلمر وړانګی په سرعت سره په خپريدو وينم. وروڼو!زه فکر کوم چه که خپلو کوششونو ته نوره هم ادامه ورکړئ ددعوت انوار به نور هم په تيارو او تورتمونو کی پرتو زړونو ته روښانه او ځلانده مفکوری وروبخښنی. که له تعصب څخه صرف نظر وشی، دا ښکاره خبره ده چه ددعوت مجلی مضامين هريو پخپل خپل ځای ځانګړی بی ساريتوب لری. زه خپل ليك پدی بيتونو پای ته رسوم چه:

په ظاهر خو مسلمان مسلمان کيږی
په باطن که مسلمان شوی مسلمان يی
په ښکاره خو شکرمند شکرمند ښکاری
په باطن کی فکر وکړه په کفران يی

«په درناوی»

عبدالرؤف«رأفت»

دباجوړ ايجنسئ له قاضی ډيرئ څخه عبدالمجيد «عابد» وروړليکی!

جناب ددعوت مجلی مدير او ددی ځانګی ټولو ملګرو!

السلام عليکم ورحمةالله وبرکاته

له رب العزت څخه سوال کوو چه تاسی ټول دصحت او عزت په لباس پټ او پخپل اسلامی کوښښ او دعوت کی کامياب او کامران ياست!

عزتمندو! مونږ هر وخت ددعوت مجلی ته سترگی په لاریو، ځکه دامجله ډیره په زړه پوری او داسلامی تربیت او شهیدشیخ جمیل الرحمن «رحمه الله» په انقلابی وینا گانو ښایسته شویده.
رب العزت دی دامجله ترقیامته پوری داسلامی دعوت دځنځیر کړئ او دټولو مسلمانانو داصلاح سبب کړی!
والسلام ستاسی ورور عبدالمجید «عابد»

دکرک ضلع څخه مقصود اسلم ختك ورور لیکی:
محترمو ددعوت رسالی کارکوونکو!
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
ورونوادعوت رساله ماته هره گڼه پخپل وخت سره ډیره ښه رسیږی او مضامین یی ډیر په زړه پوری دی، ځکه داسی مضامین ورپکی وی، چه دسړی په تعلیم کی ډیره اضافه راولی او نور زیات تعریف ته یی الفاظ نلرم چه تحریر یی کړم، زه یوه مشوره درلیږم که غور پری وکړئ، ډیره به ښه وی .
او هغه داچه که په رساله کی ددینی مضامینو سره سره څه قیصی، زرین اقوال او لطیفی نشرشی، ډیره به ښه وی . په آخر کی داسوال کوم چه الله تعالی دی دافغانستان، کشمیر او فلسطین مسلمانانوته داسلامی نظام دبر لاسی لپاره فتحه او کامیابی نصیب کړی.
والسلام
ستاسی ورورحافظ مقصود اسلم ختك ضلع کرك- کوهاټ.

محترمو لوستونکو ورونو! دمجلی په باب ستاسو خواږه لیکونه زمونږ لپاره دزیات تشویق او ترغیب سبب شوی او دمجلی هرکار کوونکی زیار باسی چه ستاسو لپاره خواږه مطالب برابر کړی.
دگران ورورحافظ مقصود اسلم ختك صاحب گټورو نظریاتو ته دقدر په سترگه گورو او انشاء الله ترخپله وسه به وریاندی عمل وکړو البته دلطیفو دنشر په باب به درنه ځکه معذرت وغواړو چه:
خوله مو خنداته نه جوړیږی
دوطن غم په مخ څپیړی راکوینه

ستاسو دخو ښئ او نیکمرغئ په هیله!
د اداره ،

دچکدرۍ دکيمپ په مرکزي جامع مسجد کې دتنظيم طلبه سلفيه غونډه

دروان هجرى قمرى كال دشوال المكرم دمياشتى په دريمه نيټه د دوشنبې په ورځ دچكدرى په مركزى جامع مسجد كى دملاكنډ ډويژن دتنظيم طلبه سلفيه دسر پرستۍ لاندې يوه درنده غونډه وشوه. غونډه دكلام الله مجيد دڅو مباركو اياتونو په تلاوت سره پيل او وروسته محترم ورور احسان الله «امين»خپله افتتاحيه وينا واورولە.

وروسته لدى دتنظيم طلبه سلفيه امير غنى الله «مسلم» دغونډى برخه والوته خپله علمى وينا واوروله. هغه دخپلى وينا په ترڅ كى داهل حديثو دمفكورى په هكله وويل: اهل حديث دهغى مفكورى داعيان دى چه دنن نه (١٤١٢) كاله مخكى رسول الله صلى الله عليه وسلم دبشريت دخيرښيگڼى او نيكمرغۍ لپاره وړاندى كړى او صحابه كرامو په زرگونو قربانۍ او سربښندنى سره ساتلى او لدى وروسته دتاريخ په هر پړاؤكى مسلمانو مجاهدينو دتن دوينو په قيمت دالاره خپله كړى ده.

اهل حديث ديو هيواد، منطقى او يايو تنظيم نوم نه دى، بلكه دا دهغى عقيدى دلروونكونوم دى، دكومى لپاره چه محمد صلى الله عليه وسلم دنياته راستول شوى دى او هغه دقرآن او حديث عقيده ده .

هغه په پاى كى دافغانستان په روانو واقعاتو رڼا واچوله او ويى ويل:چه مونږ به په افغانستان كى هيڅكله دغربيانو دلاس جوړ حكومت ته چه دهغوى اهداف پكى نغښتى وى، غاړه كښېنږدو او داسلامى جهاد په هغه سپيڅلى لاربه تر هغى روان يو، ترڅو په افغانستان كى دقرآن اوسنت حكومت ټينگ شى.

وروسته دتنظيم طلبه سلفيه مرستيال امير،اميرسلام خان «صادق» وينا وكړه او دشهيدشيخ جميل الرحمن (رحمه-الله) دژوند او دهغه دكارنامو په باب ئى رڼا واچوله او ټولو مجاهدينو اوطلبه ؤته يى دشهيد مشر دلارى دتعقيبولو ترغيب وركړ.

لدى وروسته بيامحترم ورور عبدالكريم(عبيد) په موجوده حالاتو مفصل وغږيد او ټولو ځوانانو او طلبه ؤته يى دافغانستان دكنړونو داسلامى امارت داستحكام توصيه وركړه اومخالفين يى په كلكه محكوم كړل.

محترم شيخ القرآن محمد رحيم شاكر النورستانى، مولوى محمد زاهد او محيب الله هريو په خپل خپل وار مفصلى ويناوى وكړى.غونډه دحضرت عبدالله ابن ام مكتوم رضى الله عنه د دارالحفاظ د مدير قارى صاحب عارف خان په اختتاميه دعا پاى ته ورسيده.

نبوی ارشاد

عن ابی مالك الاشعری رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: النائحة اذالم تتب قبل موتها تقام یوم القیامة وعلیها سربال من قطران، ودرب من جرب.

(رواه مسلم)

ترجمه: از ابومالك اشعری رضی الله عنه روایت است كه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: اگر نوحه گر پیش از مرگش توبه نكند روز قیامت ایستاده كرده میشود در حالیكه بر او پیراهنی از قیر وجامه ای كه در آتش زود مشتعل میگردد پوشانده میشود.

افغانستان د ټولو مشترک کور دی، په
دی هیواد کی د کفر او الحاد د نابودۍ
او د الهی نظام د ټینګښت لپاره ټولو
مؤمنو مجاهدینو قربانی ورکړی. جـــهاد ی
ویارونه یی ګټلی او د نړۍ ستر کفری طاقت
ته ئی شرمناکه ماتی ورکړی ده.
د دیارلس کلن اوږد او خونړی جهاد او
حقه مبارزی د بریالیتوب په اوسنی پړاو کی،
دجهاد افتخارات په یوه فرد، تنظیم او
سمت پوری تړل او منحصر کول په حقیقت
کی د افغانستان د ملیونونو شهیدانو او
زمونږ د میړنی ملت له قربانیو او د جهاد له
مقدساتو سره نه بخښونکی خیانت دی او
د دغه ستر خیانت مرتکبین به د هیواد
په اسلامی تاریخ کی د تل لپاره رسوا او
شرمنده وی.